




# اصلی پیری مُریدی
# څه شی ده


شیخ العرب والعجم، عارف باللہ حضرت اقدس مولانا شاہ

## حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم





## خانقاہ اِمدادیہ اشرفیہ

گلشنِ اقبال بلاک ۲ کراچی

# اصلی پیری مُریدی

# څه شی ده

شیخ العرب والعجم عارف باللہ
حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہ اِمدادیہ اشرفیہ
گلشنِ اقبال بلاک ۲ کراچی

# فهرست



| شمار | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | داولیاوو پیژندنه | ٦ |
| ۲ | دمُرید په زړه کی دشیخ دعظمت مثال | ۷ |
| ۳ | عُلماوو ته دشیخ عبدُ القادر جیلانیؒ نصیحت | ۸ |
| ۴ | په عارضی څراغ سره ابدی څراغ لګیږی | ۹ |
| ۵ | اصلی مُرید او اصلی پیر څوك دی؟ | ۱۰ |
| ٦ | دلَااِلٰه راز | ۱۲ |
| ۷ | داولیاوو دصحبت دضرورت دلیل | ۱۳ |
| ۸ | دخدای دعاشقانو مقام | ۱٤ |
| ۹ | دحافظ شیرازی رحمة اللّٰه علیه قصه | ۱۵ |
| ۱۰ | کشف دبنده په اختیار کی نه دی | ۱۷ |
| ۱۱ | دجعلی پیر د کشف درواغ ښکاره سول | ۱۷ |
| ۱۲ | په کعبه شریفه کی دلمونځ کولو دعوه کونکی پیر انجام | ۱۹ |
| ۱۳ | دیوه ړانده دخدایی دعوه | ۱۹ |
| ۱٤ | دخدائی دعوه کونکی ته دیو عالم جواب | ۲۰ |

| شمار | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ١٥ | ديوه جعلي پير دخطا ايستلو قصه | ٢٠ |
| ١٦ | اصلي مُريد هغه دی دچا چی مراد خدایﷻ وی | ٢١ |
| ١٧ | دحضرت سفيان ثوری رحمة الله عليه نصيحت | ٢٥ |
| ١٨ | دغفلت يو مجرب(اثر لرونکی) علاج | ٢٥ |
| ١٩ | ددين دپاره داصحابو دکوښښ يو کوچنی مثال | ٢٦ |
| ٢٠ | دمرګ دتياری وخت | ٢٧ |
| ٢١ | په دواړو جهانو کی پر آرامه داوسيدو طريقه | ٢٧ |
| ٢٢ | دانسان تر ټولو لوی دښمن | ٣٠ |
| ٢٣ | په ګناوو زړه خوشحاله کول بې عقلی ده | ٣٢ |
| ٢٤ | قرار صرف دخدای په ياد کی دی | ٣٣ |
| ٢٥ | دخدای دتعلق دبې مثاله خوند دليل | ٣٤ |
| ٢٦ | دين دچا څخه زده کړو | ٣٥ |
| ٢٧ | دخدای دوستان څوك دی | ٣٥ |
| ٢٨ | دجانشينی فتنه | ٣٦ |
| ٢٩ | دجعلی پيرانو دوکه | ٣٨ |
| ٣٠ | دقوالی په سترګو ليدلې قصه | ٤٠ |

| شمار | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ٣١ | ساز او سورنا بې ايمانى پيدا كوى | ٤١ |
| ٣٢ | هره ګناه تاوانى ده | ٤٢ |
| ٣٣ | دنبى عليه السلام د راوړى دين پيژندنه | ٤٣ |
| ٣٤ | دحضرت پير محمد شاه سلونى رحمة الله عليه قصه | ٤٤ |
| ٣٥ | دجعلى جانشينو حال | ٤٤ |
| ٣٦ | دبعضى جعلى پيرانو په سترګو ليدلى قصې | ٤٧ |
| ٣٧ | داولياوو عظمتونه | ٥٠ |
| ٣٨ | دخاندانى پيرى او جانشينى لعنت | ٥١ |
| ٣٩ | دجعلى خانقاوو حال | ٥٤ |
| ٤٠ | دبزرګى پيژندنه | ٥٥ |
| ٤١ | دشيطان يو خطرناكه ايجاد | ٥٧ |
| ٤٢ | دنبى عليه السلام عشق داصحابو څخه زده كړى | ٥٨ |
| ٤٣ | درُود شريف ويل خالص ايمان دى | ٥٩ |
| ٤٤ | مورډ او زمورډ بزرګان بيخى وهابيان نه دى | ٦٠ |
| ٤٥ | مړو ته دثواب وربخښلو سُنت طريقه | ٦١ |
| ٤٦ | دفاتحې او دنذرو نياز حقيقت | ٦٣ |

| شمار | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ٤٧ | دخیتهو مُلا دارواحو سره جنګونه | ٦٤ |
| ٤٨ | فاتحه غلا سول | ٦٥ |
| ٤٩ | دثواب وربخښنولو په باره کی یوه ضروری اصلاح | ٦٥ |
| ٥٠ | درُود شریف دویلو هدایت | ٦٦ |

بسم الله الرحمن الرحيم

**اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَکَفٰی وَسَلاَمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیۡنَ اصۡطَفٰی اَمَّابَعۡدُ**
**فَاَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ٥ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ**
**وَاتَّبِعۡ سَبِیۡلَ مَنۡ اَنَابَ اِلَیَّ**

## داولیاوو پیژندنه

اللهﷻ وخپل محبوب بندګانو ته هغه عظمتونه(لویی) ورکوی چی په هغه دحاکمانو او پاچاهانو زړونه ریږدی مګر دغه عظمتونه هغه وخت حاصلیږی چی په زړه کی خدایﷻ وی. داسی نه وی چی پر خیمه خو لیکلی وی چی دا دلیلی خیمه ده لاکن چی په خیمه کی وکتل سوه نو معلوم سول چی دننه سپی تړلی دی. همداسی مثال دهغه سړی دی کوم چی داولیاوو په لباس کی هم دګناوو څخه ځان نه ساتی، نو پر هغه خو چاپ دخدای ددوست لګیدلی دی، پوره شرعی ږیره یې ده، خولۍ یې پر سر ده، مګر چی په زړه کی یې وګورې نو هغه دغیرالله دمُرداری څخه ډك دی. که په زړه کی خدای موجود وی نو مخ دهغه ترجمانی کوی، مخ دزړه ترجمان دی، که په زړه کی خدای سته نو مخ به هم دخدای ترجمان وی.

ددې خبری څخه دهغه حدیث پاك تشریح کیږی په کوم یوه کی چی نبیﷺ فرمایلی دی چی دخدای دوستان هغه دی چا ته چی په کتلو سره خدای په یادیږی ﴿**اِذَارُاُوۡاذُکِرَاللّٰهُ**﴾ دچا مخ چی دخدای ترجمان وی، دچا په زړه کی چی خدای وی هغه دغیرالله څخه خپل زړه پاك کړی.

یوواری حضرت عثمانؓ ته یو سړی راغلی چی بدنظری یې کړې وه نو حضرت عثمانؓ وفرمایل﴿**مَابَالُ اَقۡوَامٍ یَّتَرَشَّحُ مِنۡ اَعۡیُنِهِمُ الزِّنٰی**﴾ څه حال دی

دداسی قوم چی تر ستر ګو یې زنا څخیږی. دخدای ددوستانو تر ستر ګو دخدای انوار څخیږی او دغیرالله دعاشقانو څخه دفنا کیدونکی لاښو بدبویی راځی.

## دمُرید په زړه کی دشیخ دعظمت مثال

په علی ګړه(هندوستان) کی میرس روډ دنوابانو دکوټیانو څخه ډك وو، لوی لوی نوابان هلته اوسیدله، دنن څخه تقریباً څلویښت کاله تر مخه ما یو څو شعرونه ویلی وه، په هغه شعروکی ما دخپل شیخ په برکت ونوابانو ته خطاب کړی وو، هغه وخت زه دیو مسکین طالب په حیثیت دخپل پیر حضرت مولانا شاه عبدُالغنی رحمة الله علیه سره دنواب چَهتاری کره تللی وم لاکن دپیر په برکت نوابان می په خاطر کی هم نه دی راوړی.

زموږ شیخ به فرمایله که مُرید دخپل پیر څخه خدای حاصل نه کړی بس خوړله او چیښله یې او ددنیا تفریح یې کوله نو به دخدای څخه محرومه وی. خدایﷻ ماته توفیق راکړی چی ما هیڅکله دنوابانو او مالدارانو لحاظ نه دی کړی لاکن نن سبا دمُریدانو دا حال دی که یو مالداره سړی یې پیر ته راسی نو مُرید خپل پیر ته ګوری هم نه، که مُرید دمدرسې خاوند وی نو دمدرسې رسیدونه یې په لاس کی دمالدارانو په شا ورپسې وی او خپله مدرسه هغه ته دوربښکاره کولو کوښښ کوی. په ښه غوږ یې واوری چی دمخلوق سره په هیله باندی کار نه سمیږی، دخدای ومخته په ژړا سره کار سمیږی. نو عرض می کاوه چی ما په خپل شعروکی (دخپل پیر) شاه عبدُالغنی رحمة الله علیه دغُلامی په صدقه ونوابانو ته خطاب وکی

بہت خوشنما ہیں یہ بنگلے تمُھارے
یہ گملوں کے جھرمٹ یہ رنگیں نظارے

ترجمہ: ډیری ښایستې دی دا ستاسی بنګلې
دغه دګلدانیانو ډیروالی او دغه ښایستې منظرې

ارے جی رہے ہو یہ کس کے سہارے
کہ مرنے سے ہوجائیں گے سب کنارے

ترجمہ: اې ورونړو ژوند پر کوم شی تیروی
چې دمرګ وروسته ټوله پاته کیږی

اگر قربِ جانِ بہاراں نہیں ہے
وہ ننگِ خزاں ہے گلستاں نہیں ہے

ترجمہ: که دخالق نژدیوالی نه دی درته حاصل
نو دا ټوله خزان دی ګلستان نه دی

## عُلماوو ته دشیخ عبدُالقادر جیلانیؒ نصیحت

شیخ عبدُالقادر جیلانی رحمة الله علیه وعُلماوو ته داغسی نه وفرمایلی چی اې!دمدرسې څخه فارغه سوی عُلماوو! دمسجد ممبر دنیولو تر مخه ولاړسی دخدای دیو دوست په صحبت کی شپږ میاشتی او کال وه اوسیږی، دهغو چپلکی پورته کړی کوم کتابونه چی تاسی ویلی دی دهغه کتابو خالق او مالك به ستاسی وزړو ته راسی. ستاسی زړونه به دخدای دانوارو خاوندان سی بیا به ستاسی عزت بل رنګه کیږی، ته به ددریابو پر غاړه، په ځنګلو کی، دغرو په لمن کی په څیری کالو کی دخپل زړه د درد خوشبویی وغوړوې او دا مَزدوران لرونکی او مالداره خلګ به تا ته سلام کوی، په تا پسی به ګرځی چی هغه څه سو چا چی دزړه د درد(دخدای دمحبت) دوا ورکوله هغه چیری ولاړی. پردې باندی زما شعر دی

دامنِ فقر میں مرے پنہاں ہے تاجِ قیصری
ذرّۂ دردِ دل ترا دونوں جہاں سے کم نہیں

ترجمہ: زما دفقیرۍ په لمن کی دقیصر تاج(دخدای محبت) پټ دی
(اې الله) ستا دمحبت یوه ذره هم تر دواړو جهانو کمه نه ده

# په عارضي څراغ سره ابدي څراغ لګيږي

مولانا جلالُ الدين رومي رحمة الله عليه داغسي نه دي فرمايلي چي ګوري دژوند څراغ ډير کمزوره دی، دمرګ باد چليږي، يو وخت هم دژوند څراغ مړ کيداسي.

موت کی تندو تیز آندھی میں
زندگی کے چراغ جلتے ہیں

ترجمہ: دمرګ په تيز بادو کي دژوند څراغان لګيږي

په کوښښ سره په زړه کي دخداى دمحبت څراغ ولګوي کله چي ددې عارضي ژوند څراغ مړسي نو دخداى دانوارو ابدي څراغ به په تاسي کي ولګيږي لکه څنګه چي اُوس برق ولاړی او توره شپه سول نو دجنريټر په لګيدو سره سم ټوله څراغان ولګيدل او ړنا سول. ماته دمولانا رومي صاحب شعر راپه ياد سو

بادِ تُند است وچراغِ ابترے
زو بگیرانم چراغِ دیگرے

څراغ کمزوره دی او هَوا تيزه چليږي، اې دنيا والو! دستي دوهم څراغ دلګولو فکر وکی. جلالُ الدين رومي کم عقله نه وو، دخپل پير شمسُ الدين تبريزي په صدقه يې پر سُنت باندي په عمل کولو سره او دګناوو څخه په حفاظت سره يې دخداى دتعلق دوهم څراغ ولګوی. مولانا رومي صاحب فرمائي چي کله سترګی پټي سی او مرګ راسی نو دخداى ددوستانو په زړو کي داِلٰهي انوارو څراغ دستي ولګيږي لکه اُوس چي په جَنريټر دستي ړنا راغلل. دوستانو ټول خوندونه، نعمتونه، کوټياني، مرسلډيز موټران، دتجارت شور ماشور او دښځو نمك چي سترګی پټي سي نو به ټوله ختم سی، يوه ورځ ددنيا څخه موږ ټوله رُخصت کيږو، ددنيا پر دې بې وفايي باندي ما په هردوئي(هندوستان) کي يو شعر ويلي وو، زه او حضرت مفتي محمودُ الحسن ګنګوهي رحمة الله عليه په رکشا کي روان وو، ما ورته وويل چي حضرت صاحب زما

یو شعر جوړ سو، شعر داوریدلو وروسته مفتی صاحب راته وویل چی دغه شعر خپل پیر حضرت شاه ابرارُالحق صاحب ته ضرور ووایه، هغه شعر چی مفتی اعظم هند خوښ کړی وو هغه دغه دی

یہ چمن صحرا بھی ہوگا یہ خبر بُلبل کو دو
تا کہ اپنی زنگی کو سوچ کر قُرباں کرے

ترجمہ: دغه چمن به په صحرا هم بدل سی دغه خبر وبلبلکی ته ورکه
چی خپل ژوند په فکر سره پر قربان کړی

دخدای ددوستانو دغُلامی او دصحبت دغه مطلب نه دی چی دپیر مالداره مُریدانو ته ګوره بلکې دخدای ددوستانو څخه خدای حاصل که، وَاللّٰه درته وایم (بیابه) دنیا داره ستا چپلکی دپورته کولو دپاره ځغلی. هغه دانګور چینجی مه جوړیږه کوم چی دانګور خوړلو دپاره روان سو او دشنه شنه بلګو(پاڼی) په لیدلو سره خطاوتی او بلګونه یې انګور وبلل، ټوله ژوند پر هغه بلګ مښتی وو او پر هغه بلګ یې قبر جوړ سو او دانګورو څخه محرومه سو، همدارنګه بعضی مُریدان دخدای دحاصلولو دپاره روان سول لاکن ددنیا په ښایست کی ورك سول او دخدای څخه محرومه تر دُنیا ولاړل. خدای دی پناه راپه نصیب کړی.

## اصلی مُرید او اصلی پیر څوك دی؟

نن سهار اللّٰه‌جَلَّ جَلَالُهٗ په زړه کی یو ډیر لوی مضمون را واچوی، هغه مضمون دا دی چی اصلی مُرید څوك دی؟ (هغه مُرید) دچا چی مقصد خدای وی او اصلی پیر څوك دی؟ څوك چی مُرید تر خپل مقصده پوری یعنی تر اللّٰه‌جَلَّ جَلَالُهٗ پوری درسولو دپاره رهنمایی کوی او دمُرید دپاره وخدای ته فریادونه کوی او دزړه په درد سره ژاړی. اصلی پیری مُریدی دغه ده. بس اصلی مُرید هغه دی دچا مقصد چی دخدای ذات وی.

﴿یُرِیۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ﴾ دقرآن پاك دغه آیت اعلان کوی چی دخدای دعاشقانو

اصلی مقصد صرف دخدای ذات یی، دغه آیت راښووی چی اصلی مُرید څوك دی؟ هغه څوك چی دخدای ذات خپل مقصد جوړ کړی. ټوله مُریدان دی وګوری چی دقرآن پاك ددې آیت په مطابق موږ مُریدان یو که یا؟ که زموږ مراد دخدای ذات وای نو موږ به پر غیراللّٰه(ښځو او لغړزنو) باندی نظر نه اچولای. کوم مُرید چی بدنظری کوی، دغیراللّٰه سره سترګی جنګوی نو پوه سه چی اُوس دده (دخدای دحاصلولو) نیت خام دی، دی خام مُرید دی، اُوم(بې عمله) دی، دده (دخدای) دتعلق کباب اُوم دی، څوك چی اُوم کباب وخوری هغه به خپله هم بې خونده وی او نور خلګ به هم ورسره بې خونده وی.

اصلی دخدای دوست ددنیا او دغیراللّٰه عاشق نه سی کیدای او اصلی دخدای دوست څوك دی؟ څوك چی تر مقصده پوری یعنی وخدای ته تر رسیدو پوری خپله هم زحمت کاږی او دخپل مُریدانو دپاره هم زحمت کاږی، یوازی نه ځغلی. کوم رهبر چی یوازی تګ کوی او دمُریدانو په فکر کی نه وی نو هغه کامل رهبر نه دی، کامل رهبر هغه دی چی خپله هم دخدای پر لار رفتارکوی او دمُریدانو هم فکر کوی چی زما دوستان پر کوم ځای دی، دلاری څخه جلا سوی خو نه دی، اصلی دوست هغه دی چی دخپلو ملګرو خیال وساتی. نو تاسی پوه سواست چی اصلی پیری مُریدی څه شی ده؟

پیری مُریدی چی بدنامه سوې ده هغه دجعلی پیرانو په خاطر سوې ده، چا چی دخپل نس دپاره (وخلګو ته) یو څو وظیفې وروښوولې خو تقوا یې نه کړه ورزده نو دداسی پیرانو مُریدان ټوله عمر اُوم کباب(بې عمله) پاته سول او دبعضو پیران په رشتیا دخدای دوستان وه او هغو خپل مُریدان دخدای پر لار په اخلاص سره او دزړه په درد سره دچلولو کوښښ وکړی لاکن بعضی مُریدانو دهغو خبره ونه منل نو هغه هم اُوم کباب پاته سول ځکه چی څوك دتکلیف څخه ځان ساتی، دنظر دحفاظت تکلیف وړلو ته تیار نه وی، څوك چی دګناوو دپریښولو غم پرځان وړلو ته تیار نه وی،

خپل غیر شرعی نفسی خواهشات دپریښولو غم پر ځان نه وړی هغه داسی دی لکه دخدای څخه چی دلیریوالی غم برداشتولو ته تیار وی، هغه هم داُوم کباب په شان دی چی نه خپله خوند اخیستای سی نه بل څوك دهغه دخوشبویی څخه مَستیدای سی.

## دلاَاِله راز

ښه پوه سی څوك چی دخدای دلاری غم پر ځان یو نه سی هغه خدای نه سی حاصلولای، خدایﷻ (خپل دلاری) غم پر ځان دوړلو دپاره (په کلمه کی) د اِلاَّاللّٰه ترمخه لاَاِله نازل کړی چی دغیراللّٰه(دګناوو) دپریښولو غم پر ځان یوسه نو بیا به په ټوله جهان کی تاته اللّٰه هم اللّٰه درمعلومیږی. زما شعر دی

لاالٰہ ہے مقدم کلمۂ توحید میں
غیرحق جب جائے ہے تب دل میں حق آجائے ہے

ترجمہ: لاَ اِله ترمخه ده په کلمهٔ توحید کی
چی غیرُاللّٰه دزړه څخه ولاړسی بیا وزړه ته حق راځی

غیرُاللّٰه(یعنی ښځی او لغړزنی هلکوان) به تا برباد کړی او دهغو څخه به ته څه حاصل هم نه کړې، دغه دحسن خاوندان به موږ ته څه راکړی کوم چی دخپل ژوند دصحت او روغتیا خپله مالکان نه دی، هغه به ستا دژوند دروغتیا څه ضمانت واخلی. دخدای څخه ماسوا پر غیرُاللّٰه باندی قربانیدل بینُ المللی بې عقلی او لیونتوب دی، ترڅه وخته به بې عقلی کوې؟ آخر دلیونتوب هم یو حد، یو limit (لیمیټ) او اندازه وی، کله چی یې حُسن ختم سی نو ته دهغه ځای څخه وځغلې، دغه سی به ترڅه وخته ځغلې؟ دکوم ځای څخه چی دځغاستی حکم دی او څه وخت چی دځغاستی حُکم دی یعنی دګناوو دځایو څخه او دګناوو دتقاضو څخه ولی نه ځغلې؟ (دقرآن شریف ددې آیت)﴿فَفِرُّوۡٓا اِلَی اللّٰه﴾ معنٰی ده چی وځغله داللّٰه وطرفته یعنی دغیرُاللّٰه څخه، دګناوو څخه داللّٰه وطرفته وځغله.

# داولیاوو دصحبت دضرورت دلیل

دقرآن پاك ددغه آیت ﴿وَاصۡبِرۡ نَفۡسَکَ﴾ترجمه "پر خپل نفس باندی تکلیف یوسه" په تفسیر کولو کی زموږ شیخ شاه عبدُالغنی رحمة اللّٰه علیه وفرمایل که چیری صحبت ضروری نه وای نو نبیﷺ ته به حکم ورکړل سوی وای چی ته په خلوت کی په خپل ژړا او زاری سره اصحابِ کرام تر خدای پوری ورسوه، مګر دغه آیت نازل سو چی﴿وَاصۡبِرۡ نَفۡسَکَ﴾ اې زموږ محبوبه پر خپل نفس باندی تکلیف یوسه، دکوره څخه بې کوره سه، دکور آرام پریږده، په اصحابو کی ورسه کښینه، صبر وکه تکلیف یوسه، موږ تاته په نابلدو کی دکښینستلو حکم نه درکوو (بلکې) ﴿وَاصۡبِرۡ نَفۡسَکَ مَعَ الَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ﴾ دخپلو عاشقانو سره دناستی دپاره درته وایم، کوم چی زما په یاد اخته دی، (اې نبیﷺ) ته هم زما عاشق یې، اصحاب هم زما عاشقان دی، عاشق دعاشقانو دتربیت دپاره ورلیږم.

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی صحبت دونه ضروری شی دی چی نبیﷺ مبارك ته (دخدای دطرفه څخه) حُکم ورکول کیږی چی ته صبر وکه، پر خپل نفس باندی تکلیف یوسه، بې شکه چی تا ته په خلوت کی زما نوم خوند درکوی لاکن که ته په خلوت کی پاته وې نو اصحاب به بیا ستا دذات څخه فیض څنګه اخلی؟ لهٰذا ته هغو ته ورسه، دکوره څخه بې کوره سه او په مسجدِ نبوی کی چی کوم اصحاب ما یادوی دهغو سره ورسه کښینه او دخدای دتعلق چی کومه اعلیٰ درجه موږ تا ته عطا کړې ده، دهغې اعلیٰ درجې تعلق مع اللّٰه دنبوت دفیض څخه اصحاب دنسبت(دخدای ددوستی) خاوندان کړه، ځکه چی زه(اللّٰهﷻ) ددوی څخه اسلام مخته نشروم.

نو زموږ شیخ به فرمایله که صحبت ضروری نه وای نو آیا اللّٰهﷻ پر خپل محبوب نبی باندی بار اچوی، صبر یې په کوی؟ آیا په صبر کی چاته آرام حاصلیږی؟

په صبر کولو کی خو تکلیف وی مګر په دې عنوان سره اللهﷻ دنبیﷺ صبر شیرین کړی چی زه تا وبیګانه خلګو ته نه ورلیږم بلکې خپلو عاشقانو ته دی په ورلیږلو سره ستا صبر شیرین کوم.

مِری زندگی کا حاصل مِری زیست کا سہارا
ترے عاشقوں میں جینا ترے عاشقوں میں مرنا

ترجمہ: زما دژوند حاصل زما دژوند مقصد
ستا دعاشقانو سره ژوند ستا دعاشقانو سره مرګ

## دخدای دعاشقانو مقام

اللهﷻ وفرمایل چی اې نبی! زه چی تا ته دچا سره دناستی حُکم درکوم، هغه بیګانه نه دی، ستا یاران دی او زما هم یاران دی، دبیګانه خلګو سره په ناسته کی تکلیف وی، دیارانو سره په ناسته کی خوند وی، ته هغو ته ورسه، زما په عاشقانو کی به ناسته تا ته خوند درکړی او څه خوند به وی دغه په یو شعر کی بیان سوی دی

نشّہ بڑھتا ہے شرابیں جو شرابوں میں ملیں
مئے مُرشد کو مئے حق میں ملا لینے دو

ترجمہ: نشه ډیریږی چی شراب په شرابو ګډ سی
دپیر دمحبت شراب دحق تعالیٰ دمحبت په شرابو ګډوم

اې نبی ستا چی زما سره کوم محبت دی هغه بې مثاله دی لاکن اصحاب هم زما سره محبت کوی، کله چی ددواړو محبتو شراب سره ګډ سی نو بیا وګوره چی څه پیښیږی.

ترے جلوؤں کے آگے ہمّتِ شرح وبیاں رکھ دی
زبانِ بے نگہ رکھ دی، نگاہِ بے زباں رکھ دی

ترجمہ: ستا ددیدار ومخته می دګویایی او خبرو طاقت ختم سو
ژبه می بې طاقته سول سترګی می بې طاقته سوې

﴿يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ (اې نبی) ستا اصحاب سهار و ماښام ما يادوی، چی ته په هغو کی کښېنـې نو پر نفس باندی دغه صبر دوړلو په برکت سره به ستا په درجه کی نور هم لوړوالی راسی. ځوك چی پيروی دهغه درجه هم لوړيږی، که يو پير دغرو په لمن کی يوازی پريږدې نو دهغه پر مختګ به ودريږی. نو اللهﷻ دنبیﷺ ددرجې دلوړوالی دپاره دواړه لاری عطا کړې چی په خلوت کی ما يادوه او په ښکاره کی زما محبت نشروه، ځونه خلګ چی ستا دصحبت څخه اصحاب جوړ سی، داصحابو دصحبت څخه چی ځونه خلګ تابعين جوړسی، دتابعينو دصحبت څخه چی ځونه خلګ تبع تابعين جوړسی، تر قيامته پوری چی ځونه دين نشر کيږی دهغه ټوله صدقۀ جاريه بيرته ستا روح مبارك ته رارسيږی. زموږ شيخ وفرمايل چی کوم وخت دغه آيت نازل سو﴿وَاصْبِرْنَفْسَکَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ نو نبیﷺ هغه وخت دخپل کورو څخه په يوه کور کی وو﴿کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِهٖ﴾.

بس ددې آيت دنازليدو سره سم نبیﷺ را ووتی چی هغه کوم خلګ دی چی خدای يادوی، دچا سره چی دناستی حُکم خدای ماته راکوی. معلوم سول چی ځوك ذاکر وی، ځوك چی په ډير زيات طلب، ناقراری او اُوښکو سره خدای يادوی نو بعضی وخت خدایﷻ دهغه پير خپله وهغه ته ور وليږی، اللهﷻ رهبر ولار تلونکو ته ور وليږی.

## دحافظ شيرازی رحمة الله عليه قصه

زموږ شيخ شاه عبدُالغنی رحمة اللّٰة عليه وفرمايل چی يو بزرګ به په ځنګله کی دخدای په ياد کی ژړل چی يااللّٰه! زه تا څنګه پيدا کم او چيری په تاپسی وګرځم

اپنے ملنے کا پتہ کوئی نشاں
تو بتادے مجھ کو اے ربِّ جہاں

ترجمہ: خپل دحاصليدو ځای او نښان، ته ماته راوښوه اې رب دجهانه

دغه بزرګ څوك وو؟ دا حافظ شيرازی رحمة اللّٰه عليه وو. دوی اووه ورونړه وه. سُلطان نَجمُ الدّين کُبریٰ رحمة اللّٰه عليه ته (په خوب کی) اللّٰهﷻ حُکم وکړی چی زما يو بنده دی، دپلانی زوی، زما په ياد کی ژاړی ورسه دهغه تربيت وکه او په خوب کی يې دحافظ شيرازی رحمة اللّٰه عليه شکل هم وربنکاره کی.آه دغه ناقراره زړه، دغه داُوښکو ډکی سترګی پير وخپل ځان ته را کش کړی.

آهِ من گر اثرے داشتے
یارِ من بکویم گذرے داشتے

که زما په فرياد کی څه تاثير سته نو زما يار به زما کوځې ته خامخا راځی

زموږ شيخ به فرمايله چی دحضرت نَجمُ الدّين کُبریٰ رحمة اللّٰه عليه په نامه کی دغه کُبریٰ ولی دی؟ نَجمُ الدّين خو مُذکر دی او کبریٰ مُؤنث، دمُذکر صفت مُؤنث څنګه راتلای سی؟ دا خو دنحو دقاعدې څخه غلط دی، نو زموږ شيخ وفرمايل چی کُبریٰ دنَجمُ الدّين صفت نه دی، دلته موصوف مخذوف دی صاحبِ مناظرۂ کُبریٰ، شاه نَجمُ الدّين سُلطان صاحبِ مناظرۂ کُبریٰ، نو کُبریٰ صفت دی دمناظرې او دواړه مُؤنث دی.

سُلطان نَجمُ الدّين کُبریٰ رحمة اللّٰه عليه دحافظ شيرازی رحمة اللّٰه عليه وپلار ته ورغلی او دهغه څخه يې پوښتنه وکړه چی ستا څو زامن دی؟ هغه ورته وويل چی اووه، ورته وې فرمايل چی ټوله راوغواړه، شپږ زامن يې راغلل، ټوله کاروباری وه، په خوب کی چی يې دحافظ شيرازی کوم شکل ليدلی وو هغه په نظر وره نه غلی نو پوښتنه يې ځنی وکړل چی بل زوی هم لرې؟ پلار يې ورته وويل چی وو! يو بل زوی هم لرم، زه هغه نالايق بولم په دې خاطر هغه زوی نه بولم، هغه په ځنګله کی دليونيانو په شان ژاړی، سُلطان نَجمُ الدّين کُبریٰ ورته وفرمايل چی زه په هغه ليونی پسی ګرځم، ستا دزوی خالق، ستاسی رب، زما رب زه وتاته دهغه زوی دپاره راليږلی يم چی ورسه

دهغه تربیت او رهنمایی وکه او هغه تر ما پوری را ورسوه.

سُن لے اے دوست جب ایّام بھلے آتے ہیں
گھات ملنے کی وہ خود آپ ہی بتلاتے ہیں

ترجمہ: واوره اې دوسته کله چی ښه شپې او ورځی راسی
(حق تعالیٰ) خپل دحاصلیدو لاره خپله چا ته ورښوی

سُلطان نَجمُ الدّین کُبریٰ وځنګله ته ولاړی حافظ شیرازی یې ولیدی، حق تعالیٰ هغه ته هم (دده دراتګ) حال دکشف په ذریعه ورکړی.

## کشف دبنده په اختیار کی نه دی

کشف اختیاری شی نه دی، دانسان په اختیار کی نه دی، کشف دخدای په اختیار کی دی، چی کله خدای وغوښتل نو دحضرت یوسف علیه السلام دقمیص خوشبویی یې دمصر ځخه تر حضرت یعقوب علیه السلام پوری را ورسول او چی کله یې ونه غوښتل نو دیعقوب علیه السلام دخپل کلی کنعان په کوم ځاه کی چی حضرت یوسف علیه السلام خپلو ورونړو اچولی وو حضرت یعقوب علیه السلام دهغه دوجود ځخه، دهغه دژوند او مرګ ځخه بې خبره وو، که کشف دحضرت یعقوب علیه السلام په اختیار کی وو نو یعقوب علیه السلام دکنعان په ځاه کی خپل زوی ولی ونه لیدی؟ حالانکه دمصر ځخه یې دیوسف علیه السلام دقمیص خوشبویی بوی کړل. نو معلوم سول چی کشف دخدای په اختیار کی وی، دغه عقیده صحیح کړی.

## دجعلی پیر دکشف درواغ ښکاره سول

کوم خلګ چی داسی وایی چی پیر په هر شی خبر وی، دا دجاهلی عقیده ده. زموږ کلی پرتاب کړه(هندوستان) ته یو جعلی پیر راغلی، دچرګانو عاشق، دپیسو عاشق، هغه وویل ستاسی په نس کی چی کوم خواړه موجود دی هغه زه درښولای سم، هغه

پیریان په قبضه کی کړی وه، هغو پیریانو به په غوږ کی ورته وویل چی نن پلانی هیندوانه خوړلې ده. دجاهلانو خلګو ودته عقیده سمه سول او دته یې ورتګ شروع کړی، هغه خپله هم لمونځ او روژه نه کول او نور خلګ یې هم بې لمانځه کول.

هلته یو بزرګ چی دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه مجازِ صحبت(خلیفه) وو بابا نَجمُ احسن صاحب، هغه ماته خپله وویل چی ما یو سړی وهغه پیر ته ور ولیږی او ورته ومی ویل چی دټولو مُریدانو ومخته پیر ته ووایه چی ما اوریدلی دی چی انسان څه وخوری ته دهغه په باره کی ټوله ورښوې نو زه ستا امتحان اخلم چی ستا په نس کی کومه ناپاکی او دغلاظت لینډ(په هندوستان کی لینډ مُرداری ته وایی) پروت دی هغه سهار پر څو بجې او څو دقیقې راوځی یعنی ته مُرداری پر څو بجې او څو دقیقې کوې، زه ټوله شپه دلې تیروم او سهار ساعت ته ګورم چی دشپې تا کوم اعلان کړی وو پر هغه وخت، دهغه په مطابق، پر هغونه بجې او هغونه دقیقې باندی ستا مُرداری راووتل که یا. جعلی پیر دغه فکر وکی که زه وخت وروښوم او پر هغه وخت باندی زما مُرداری راونه وتل، پر صحیح وخت باندی زما دلینډ(مُرداری) لینډنګ (راوتل) ونه سو نو ډیره رسوایی به می وی.

پر لینډنګ باندی راپه یاد سول چی دلته یوه کارخانه هم ده، نوم یې پاك لینډ دی، لینډ(مُرداری) هم کله پاکیدای سی؟ لاکن دا صرف ټوکه ده، دمحفل دخوشحاله کولو دپاره یوه ټوکه ده، حقیقت نه دی. دانګریزی لینډ(land) جلا دی او د اُردو لینډ جلا دی. جنوبی افریقه، امریکه، انګلستان هر چیری چی ولاړ سم هلته دانګریزی یو لفظ ډیر استعمالیږی he has(هی هیس)، she has(شی هیس) ما ټوکه وکړه چی راته ووایاست دا په مسجد کی څه حیض حیض شروع دی، نو دانګریزی has(هیس) جلا دی او د اُردو حیض جلا دی.

خیر هغه جعلی پیر دغه فکر وکی که داسهال ګولۍ وخورم نو لینډ به می

دوخت تر مخه وسی لهٰذا پیر وهغه سړی ته وویل چی څه ولاړسه ته وهابی یې، مګر دهغه مُریدانو چی کله وکتل چی پیر صحیح جواب ورنه کړی نو ټولو هغه پریښنوی ځنی ولاړه، ټوله دپرتاب ګډه کلی دهغه دفتنې څخه وساتل سو.

## په کعبه شریفه کی دلمونځ کولو دعوه کونکی پیر انجام

یوه جعلی پیر خلګ ډیر خطا ایستل، لمونځ یې نه کاوه او ویل به یې چی زه په کعبه شریفه کی لمونځ کوم، دخپل کلی په مسجد کی یې نه کوم. یو مُلا صاحب دکلی خلګو ته وویل چی ورونړو! پیر صاحب خو په کعبه شریفه کی لمونځ کوی لهٰذا پر ده باندی خواړه بند کړی، دته ددې کلی ډوډی مه ورکوی، دته وواياست چی دمکې شریفی خرما خوره او د زم زم اُوبه چیښنه، دیۍ دهغه ځای مبارکه ډوډی پریږدی دهندوستان نامبارکه ډوډی ولی خوری. دمُلاصاحب په دغه خبره دخلګو سر خلاص سو چی دا خو صحیح خبره ده، دیۍ دمکې شریفی مبارکه ډوډی پریږدی دلته په هندوستان کی ولی خوراك کوی. دټوله کلی خلګ راټول سول (ورته وې ویل) چی ته کعبې شریفی ته ځې دلمانځه دپاره نو هلته خرما خوره او زم زم چیښنه بلکې موږ ته یې هم راوړه. جعلی پیر ته چی درې شپې ډوډی ورنه کړه سول نو څلورمه ورځ یې وویل چی ورونړو! دنن څخه زه ستاسی په مسجد کی لمونځ کوم لاکن خلګو ورته وویل چی اُوس موږ تاته ډوډی نه درکوو ځکه چی ته دډوډی دپاره لمونځ کوې او هغه یې دکلی څخه پسی واخیستی.

## دیوه ړانده دخدایی دعوه

په پنجاب کی یوه سړی چی په یوه سترګه ړوند وو هغه وویل چی زه خدای یم، نونس(۱۹) کسانو پر هغه ایمان راوړی. یوه مُرید دهغه څخه پوښتنه وکړه چی محترمه چی ته خدای یې نو ړوند ولی یې؟ ته خپله سترګه ولی نه سمه یې نو هغه ورته

وویل چی ګوره دمُسلمانانو خدای د﴿يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْب﴾ اعلان کوی چی پر ما باندی بیله لیدو ایمان راوړی او زه د يُؤْمِنُوْنَ بِالْعَيْب اعلان کوم چی زما پر دغه عیب باندی ایمان راوړی یعنی پر ړوندوالی باندی، زما ددغه عیب سربیره پر ما ایمان راوړی چی زه خدای یم نَعُوذُ بِاللّٰه.

## دخدایی دعوه کونکی ته دیو عالم جواب

زموږ شیخ شاه عبدُالغنی صاحب راته وفرمایل چی په یو کلی کی یوه جاهل پیر وویل چی زه ستاسی رب یم، ډیرو خلګو پر هغه ایمان راوړی. یوه عالم وخپلی ښځی ته وویل چی ده درو څلورو شپو ډوډی چی خرابه سوې وی هغه ماته راکه، ده دغه ډوډی وجعلی پیر ته وروړل او ورته وې ویل چی دغه ما تاته راوړې ده، جعلی پیر چی ډوډی خلاصه کړه نو دبدبویی څخه یې ماغزه خراب سول، جعلی پیر ومُلاصاحب ته وویل چی تا درب په شان کی بې ادبی وکړل، خرابه ډوډی دی راوړل نو مُلاصاحب ورته وویل چی تا دخدایی دعوه کړې ده او خدای وټولو ته رزق ورکوی نو تا چی ماته څنګه رزق راکړی وو هغه ما تاته راوړی.

## دیوه جعلی پیر دخطا ایستلو قصه

په یوه کلی کی یو جعلی پیر هیڅ لمونځ نه کاوه. یوواری دجماعت دورکولو دپاره خلګو تر مخه کړی، هغه خو بیخی جاهل او بې علمه وو لهٰذا هغه دغه فکر وکی چی راسه دا مُریدان خطا باسه، نو هغه په لمانځه کی دَهت دَهت دَهت ویل شروع کړل، چی سلام یې وګرځوی نو خلګو پوښتنه ځنی وکړل چی تا په لمانځه کی (دا دَهت دَهت) څه ویل؟ هغه ورته وویل چی کعبې شریفی ته سپی داخلیدی، ما پر هغه بړغ وکی چی وکعبې شریفی ته داخل نه سی. ددې جعلی پیر دوکه دښکاره کولو دپاره یوه هوښیار سړی ددغه پیر او دټولو مُریدانو میلمستیا وکړل او دپیر صاحب په غاب کی یې تر

وریجو لاندی غوښی پټې کړې، کله چې دپیر صاحب ومخته غاب راغلی نو پیر په قهر سره ورته وویل چې ته ماته وهابی رامعلومیږې، پیرانو ته خو غوښې ورکول کیږی، په دې کی خو خالی وریجی دی، هوښیار سړی ودریدی او وې ویل چې اې وروڼو! ستاسی پیر وایی چی دته (ددې ځای څخه) دکعبې شریفی سپی هم ورمعلومیږی مګر څو اِنچه کښته غوښی نه سوې ورمعلومی، بیا هغه وریجی ایسته کړې او ټولو ته یې غوښی ورښکاره کړې نو ټولو توبه وکښل او پیر یې پسی واخیستی.

## اصلی مُرید هغه دی دچا چی مراد خدایﷻ وی

نو ما دغه درته ویل چی کله دغه آیت نازل سو﴿**وَاصۡبِرۡنَفۡسَکَ مَعَ الَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ**﴾ نو نبیﷺ ومسجدِ نبوی ته ولاړی هلته یې وکتل چی درې قسمه خلګ ناست دی ﴿**ذَالثَّوۡبِ الۡوَاحِدِ**﴾ دیوه لباس خاوندان ﴿**اَشۡعَثُ الرَّأۡسُ**﴾ دبُشکو وریښتانو خاوندان ﴿**جَافُّ الۡجِلۡدِ**﴾ دوچ پوستو خاوندان، نبیﷺ دهغو څخه پوښتنه وکړل چی تاسی په څه اخته یاست؟ هغو ورته وویل چی موږ خدای یاده وو، نبیﷺ ورته وفرمایل چی خدای په څه مقصد یادوی؟ هغو ورته وویل چی موږ دخدای درضا دپاره خدای یاده وو، موږ ټوله دخدای مُریدان(طلب ګاره) یو، زموږ دزړو مراد خدایﷻ دی.

اُوس نو درمعلوم سول چی اصلی مُرید څوك دی؟ دچا دزړه مراد چی حق تعالیٰ وی. تر څو پوری چی پر غیرالله(ښځو او لغړزنو) باندی نظر اچوې جعلی مُرید یې، خام مال یې، اُوم کباب(بې عمله) یې، (دخدای په محبت کی) نه خپله مست یې، نه به بل څوك مستولای سې، کله چی خپله مست سې، زړه دی (دګناوو دپریښولو په برکت) سور کړی کباب سی بیا به اللهﷻ ستا خوشبویی په ټوله جهان کی نشر کړی، دهر ځای څخه چی ته تیر سې داللهﷻ خوشبویی به (هلته) محسوس سی.

لهٰذا صرف اللهﷻ خپل مراد جوړ که، په دغه کی ټوله ګناوی پریښوول هم شامل دی. کله چی ته دخدای مُرید(طلب ګاره) سې، اللهﷻ ستا مراد سی نو بیا به پر

غیراللّٰه(ښځو او لغړزنو هلکوانو) باندی ته څنګه نظر اچوې؟ نو په دې آیت کی دصوفیانو او مُریدانو دپاره دوه سبقه دی، یو سبق دخدای یادول دی او دوهم دغیراللّٰه څخه، دګناوو څخه او دخدای دخوابدی کولو څخه ځان ساتل دی. یو طرف خدای خوشحاله کول دی او بل طرف دخدای دخوابدی کولو څخه ځان ساتل دی.

*خوشی پر ان کی جینا اور مرنا ہی محبت ہے*
*نہ کچھ پروائے بدنامی، نہ کچھ پروائے عالم ہے*

*ترجمہ:* دخدای پر رضا باندی ژوند او مرګ کول هم داغه محبت دی
نه هیڅ دبدنامی پروا، نه هیڅ دجهان پروا

تاسی وواياست چی دمحبت دوه حقه دی که یا، محبوب خوشحاله سی دا یو حق دی او محبوب خوابدی نه سی دا دوهم حق دی. کوم ظالم چی دخدای دخوشحاله کولو کوښښ خو کوی لاکن دناراضه کولو څخه ځان دساتلو کوښښ نه کوی نو دیے (دخدای) دمحبت په دعوه کی اُوس لا خام دی. دقرآن پاك ددغه آیت څخه دا خبره ثابته سول چی اصلی صوفی، اصلی دخدای عاشق هغه دی کوم چی دخدای ﷻ دخوشحاله کولو عملونه هم کوی او دخدای ﷻ دخوابدی کولو دعملو څخه یعنی دګناوو څخه دځان په ساتنه کی، دبدنظری څخه دځان په ساتنه کی خپل ځان(حرام خواهشات) ورته قربان کړی.

*نہ دیکھیں گے نہ دیکھیں گے، انہیں ہرگز نہ دیکھیں گے*
*کہ جن کو دیکھنے سے رب مرا ناراض ہوتا ہے*

*ترجمہ:* نه ورته ګورو نه ورته ګورو هغو ته هیڅ کله نه ګورو
چا ته چی په کتلو سره زموږ رب ناراضه کیږی

او که په یوه ګناه کی خوند درته معلوم سی نو زما دوهم شعر وواېه

ہم ایسی لذتوں کو قابلِ لعنت سمجھتے ہیں
کہ جن سے رب مرا اے دوستو ناراض ہوتا ہے

ترجمہ: موږ داسی خوندونه دلعنت وړ بولو

چی په هغه سره اې دوستانو زموږ رب ناراضه کیږی

بس دکوښښ څخه کار واخله نو انشاء الله تعالیٰ دګناوو بوټی او زوزان به (قرار قرار) سوځل کیږی او دالله ﷻ نوم په اخیستلو سره به (په قراره قراره) دمحبت دباغ رنګ غوړیږی بیا چی کله دالله ﷻ خاص تعلق درته حاصل سی نو وَالله زه قسم اخلم چی دغه ټوله کاینات به ستا دنظر څخه ولویږی، ته چی ددې(ښځو او هلکوانو) دبدبوداره ځایو(شرمګاوو) په قصه اخته یې ټوله به دی هیر سی، چی ته یې وغواړې نو به دی هم بد ځنی کیږی، که ته دخدای په هیرولو سره ګناه کول هم وغواړې نو دخدای یاد به درباندی غالبه وی او ګناه به نه سې کولای.

بُھلاتا ہوں پھر بھی وہ یاد آرہے ہیں

ترجمہ: هیروم یې مګر هغه بیا هم راپه یادیږی

لاکن کله چی خالص دخدای دقُرب(نژدیوالی) لذت حاصل سی بیا ګناه پاتیږی، ګناوی داسه نه پاتیږی

نِعَمُ الْبَدَلْ کو دیکھ کے توبہ کرے ہے میر

ترجمہ: انعام په لیدلو سره صاحب توبه وکښل

نو چی کله حضرت نَجمُ الدّین کُبریٰ رحمة الله علیه ځنګله ته ولاړی او دحافظ شیرازی نظر دشیخ دنظر سره ومښتی نو حافظ شیرازی عرض ورته وکی

آناں کہ خاک را بنظر کیمیا کُنند
آیا بود کہ گوشۂ چشمے بما کُنند

اې زما شیخه! ته دهغه درجې ولی الله یې کوم چی خاورو ته لاس وروړی نو خاوره

طلا سی، کوم چی خاوره په یوه نظر طلا کړی لاکن دطلا دجوړیدو دپاره اول په اور کی ځان سوځل غواړی او تکلیف پر ځان تیرول غواړی، دډیر غم وړلو وروسته دغه مقام حاصلیږی، دغه مقام دخپلو (حرام) ارمانو په وینو سره حاصلیږی، دلوی لوی پنډ بدن خاوندان دخواهش دقربانولو دنامه څخه ریږدی او دکمزوره بدن پر خاوند باندی که دخدای فضل وسی نو هغه دخپلو ارمانو وینه وکی یعنی دحرام خواهشاتو دنه پوره کولو غم پر ځان وړی او بعضی داسی تکړه کوم چی تکړه خلګ هم راچپه کولای سی (لاکن) دخپل (حرام) خواهشاتو وینه په کولو کی چغالان دی **رَوُغَانَ الثَعَالِبِ** دچغالانو رفتار کوی، دخدای پر نامه درته وایم چی چغالتوب پریږدی، پر نفس باندی دشیر په شان حمله وکی، په داغه خاطر حافظ شیرازی وخپل شیخ ته ویلی وه

*آناں کہ خاک را بنظر کیمیا کُنند*
*آیا بود کہ گوشۂ چشمے بما کُنند*

اې زما شیخه! ستا هغه نظر کوم چی خاوره طلا کړی، آیا داسی کیدای سی چی ته هغه نظر پر ما هم وکړې نو حضرت نَجمُ الدّین کُبریٰ رحمة اللّٰه علیه ورته وفرمایل

*نظر کردم نظر کردم نظر کردم*

ما پر تا باندی نظر وکړی. لاکن په یوه نظر سره کار نه سمیږی، یوه زمانه دشیخ په صحبت کی تیرول غواړی بیا یو وخت کار سمیږی. حافظ شیرازی دخپل شیخ پر دروازه باندی خپل ځان خاوری کی، خپل نفس یې فنا کی، یوه زمانه یې دشیخ سره تیره کړل بیا اللّٰه جَلَّ جَلَالُهُ دته خپله دوستی ورکړل. که مُرید په خپل طلب کی صادقه وی، (داللّٰه جَلَّ جَلَالُهُ) په تنده کی صادقه وی نو داولیاوو زړه به خپله ستا وخواته متوجې سی، شیخ به ستا دپاره دسجدې ځای په اُوښکو لوند کړی

*اگر ہیں آپ صادق اپنے اقرارِ محبت میں*
*طلب خود کرلئے جائیں گے دربارِ محبت میں*

www.khanqah.org

ترجمہ: که ته صادقه يې خپل دمحبت په اقرار کی، نو خپله به طلب کړل سې دمحبت په دربار کی.

او دخدای دوست پیر به تا ته دنیاداری او ددنیا قصې در ونه ښوی ځکه چی هغه خپله هم ددنیا دوست نه وی په دې خاطر دآخرت تیاری به درباندی کوی او هغه نصیحت به درته کوی کوم چی حضرت سفیان ثوری رحمة اللّٰه علیه کړی وو

## دحضرت سفیان ثوری رحمة اللّٰه علیه نصیحت

دحضرت سفیان ثوری رحمة اللّٰه علیه څخه یو چا پوښتنه وکړل چی ماته یو نصیحت وکه مګر ډیر مختصر نصیحت، نو ورته وې فرمایل

**اِعۡمَلۡ لِلدُّنۡیَا بِقَدۡرِ مَقَامِکَ فِیۡهَا وَاعۡمَلۡ لِلۡآخِرَةِ بِقَدۡرِ مَقَامِکَ فِیۡهَا**

ددنیا دپاره دونه کوښښ وکه څونه چی په دنیا کی اوسیږې او دآخرت دپاره دونه کوښښ وکه څونه چی په آخرت کی اوسیږې. ټوله ته معلومه ده چی ددنیا څخه دتګ وروسته هیڅوك بیرته نه راځی، په آخرت کی همیشه اوسیږو، چیری چی همیشه اوسیږو دهغه ځای دپاره هغونه لوی کوښښ وکه او ددنیا ژوند عارضی دی ددې ځای دپاره ډیر کوښښ کول بې عقلی ده. دا څنګه جامع نصیحت دی، بس دغه په یاد ونیسی او په زړو کی یې کښینوی.

## دغفلت یو مجرب(اثر لرونکی) علاج

که بیا هم دنفس طبیعت سم نه سی او په لمانځه او روژه کی سُستی درمعلومیږی نو هره ورځ مرګ په یادوه، چی یوه ورځ په قبر کی پریوزم، هغه وخت به خدای ته څه جواب ورکوم. دچا زړه چی سخت سوی وی او دګناوو عادتونه ورسره وی نو هره ورځ دی پنځه دقیقې دغه فکر وکی چی زه مړ سوم او دغسل او کفن وروسته خلکو په قبرستان کی ښخ کړم، په قبر کی یوازی پروت یم، ښځه کوچنیان کاروبار کور ټوله راڅخه پاته

سول اُوس هيڅ شی په کار نه راځی، صرف عملونه راسره دی. مرګ یقیناً راځی او کوم شی چی یقینی وی په هغه کی څه شك کیدای سی، مرګ خو داسی حقیقت دی چی کافر هم دهغه انکار نه کوی، آیا یوه کافر ویلی دی چی مرګ نه راځی؟.

لهٰذا فکر وکی چی هغه کوم شی دی چی دهغه په خاطر موږ لمونځ نه کوو، چی دهغه په خاطر موږ زکوٰة نه ورکوو، چی دهغه په خاطر موږ تی وی ته ګورو، چی دهغه په خاطر موږ وی سی آر ته ګورو، چی دهغه په خاطر موږ په غلطو کارو اخته یو؟ او هغه شی دی دزړه خوشحاله کول لاکن فکر وکه چی قبر ته تلل دی نو هلته به څه شی درسره ځی، هلته به په کوم شی زړه خوشحاله کوې، هلته به څونه تی وی او څونه وی سی آر درسره ځی؟ په قبر کی خو چا ته وی سی آر نه ورکول کیږی بلکې دعذاب سیار (چغالان) ورکول کیږی لهٰذا وی سی آر وایی چی هوښیار او پوه سه ما ته مه رانژدې کیږه، دعقل څخه کار واخله دخدای په نافرمانی سره زړه مه خوشحاله کوه. کوم غُلام چی خپل بادار په خوابدی کولو سره خپل زړه خوشحاله کوی دهغه خیر نسته. دهدایت دپاره داغه یوه خبره کفایت کوی چی کوم مریی خپل بادار په خوابدی کولو سره خپل زړه خوشحاله کوی دهغه خیر نسته، یو وخت هم سوتی پر اوریداسی. اللّٰه ﷻ خو (انسان ته) وخت ورکوی چی شاید اُوس سم سی. نبی ﷺ ارشاد فرمائی﴿**كَفٰى بِالْمَوْتِ وَاعِظًا**﴾ دمرګ یادول دهدایت دپاره کافی دی، دمرګ یادول ډیر ښه نصیحت دی، په دغه سره به (دایمان) بیټری چارج سی او دښو خلګو سره کښینی، هر ځای چی ښې خبری کیږی هلته خپله ورسی. وګوری اول خلګ تر کوم کوم ځایه تلل دین به یې زده کوی.

## ددین دپاره داصحابو دکوښښ یو کوچنی مثال

یو سړی دشام دملك څخه دمدینې سفر وکی، دحضرت عمر رضی الله عنه زمانه وه، دغه سړی ورته وویل چی اې امیرُالمؤمنین کوم التّحیات چی نبی ﷺ تاته درښوولی وو هغه ماته

راوښوه، حضرت عمرؓ پوښتنه څنې وکړل چې ورورہ ته مدينې شريفي ته ولې راغلې يې؟ هغه ورته وويل چې زه صرف داغه مسئله دپوښتنې دپاره دشام څخه ومدينې شريفي ته راغلې يم، حضرت عمرؓ ورته وفرمايل چې ستا بل هيڅ مقصد نه وو؟ هغه ورته وويل چې بل هيڅ مقصد مې نه وو صرف داغه مقصد مې دی ځکه چې ته دنبیؑ صحابی يې لهٰذا ما فکر وکړی چې تا دنبیؑ څخه خپله زده کړی دی نو هغه الـتّحيات به زه ستا څخه زده کړم کوم چې تا درسول اللهﷺ څخه زده کړی دی، ورته وې فرمايل چې صرف داغه مقصد دی وو؟ هغه ورته وويل چې صرف داغه مقصد مې وو، صرف دداغه مقصد دپاره راغلی يم، اميرُالمؤمنين حضرت عمرؓ دمدينې شريفي خلګ راټول کړل او ورته وې فرمايل که جَنتي سړی وينی نو دغه سړی ته وګوری.

# دمرګ دتياری وخت

نن زموږ څه حال دی چې په خوړلو او چيښلو او په مُرداری کولو کی اخته يو، دشپې مو وخوړل سهار مو مُرداری وکړل، ومو خوړل ومو ګټل بيده سوو، سهار راپورته سو ماښام سی، ماښام بيده سو سهار سی، عمر داسی تيره وو، يوه ورځ معلوم سول چې عزرائيلؑ روح راخخه وکښل او ژوند ختم سو لهٰذا بيا په پښيمانی څه کيږی، په قبر کی به نه لمونځ کولای سې نه به روژه نيولای سې، دمځکی دلاندی(قبر) دپاره دمځکی پر سر عمل کول دی، قبر ته دتګ وروسته به بيا هيڅ عمل نه سې کولای لهٰذا (صرف) ددې خيال وساته چې زما دين سم سی. بيا ونه واياست چې موږ نه سوو خبر. په ۲۳ کاله کی دين راغلی دی، په لس دقيقو کی تاسی ته دين څنګه در زده کولای سم لاکن ددين دزده کړی دپاره هدايت درته کوم چې دخپل آخرت فکر وکی.

# په دواړو جهانو کی پر آرامه داوسيدو طريقه

دآخرت او ددنيا داسی تعلق دی چې دچا آخرت برباد سی دهغه دنيا هم برباد سی،

څوك چي خپل مَالك خوابدى كوى هغه په پرديس(بل وطن) كى هم پر آرامه نه سى اوسيدلاى او په وطن كى هم پر آرامه نه سى اوسيدلاى، لكه څوك چى خپل پلار خوابدى كړى نو په پرديس كى هم پلار دهغه خيال نه ساتى او په وطن كى هم سوټى پر اوروى او كه پلار خوشحاله دى نو به ووايى چى زوى مى پرديس(بل وطن) ته روان دى، دته ډيرى پيسې او ډالر وركى چى هلته پر آرامه وى او په وطن كى نور هم ددې خيال ساتى چى زما زوى راسى نو به دلته پر آرامه وه اوسيږى، همدغه رنګه څوك چى خپل رب يعنى اللهﷻ خوشحاله ساتى نو اللهﷻ هغه په دنيا كى هم پر آرامه ساتى او په آخرت كى هم، په پرديس(دنيا) كى هم دهغه دآرام خيال ساتى او په وطن(آخرت) كى خو دىٔ آرام. دپلار محبت خو مخلوق دى بيا دخالق دمحبت څه پوښتنه، دهغه خو موږ فكر هم نه سو كولاى.

بس هغه بنده ډير مبارك دى كوم چى خپل مَالك خوشحاله كړى، هغه په دنيا كى هم پر آرامه وى او په آخرت كى هم پر آرامه وى. په دې خاطر كه خپل پيداكونكى خوشحاله كوې نو دنفس غُلامى پريږده، نفس زموږ دُښمن دى، ددښمن خبره مه منه كنې پښيمانى به كوې، دښمن كه هر څونه ميټايى او شيرينى درښكاره كړى لاكن ته پوه سه چى په دې كى يې دوه څاڅكى جمال ګوټه(داسهال دوا) هم اچولې ده، لږ غوندى خوند به دركړى بيا دى نس درخرابوى، نس به دى داسى خراب سى چى ټوله خوندونه به دى هير سى.

دالِه آباد(هندوستان) يو ډاكټر وو، كله چى هغه دډاكټرى په كالج(فاكولته) كى سبق ويلى نو دكالج هلكوانو (دالمارىٔ) قلف مات كړى او دده ډوډى يې ځنى وخوړل كوم چى دده دپاره مور په اصلى غوړو كى پخكړې وه، ده فكر وكى چى دا دهلكوانو كار دى، دفاكولتې اكثره خلګ داغسى وى، هغه دكومى خوا تقوا داره او وليان وى، اكثره دشيطان خلافت يافته وى البته چاته كوچنى خلافت وركوى چاته

لوی خلافت ورکوی، دده خلافت دوه قسمه دی، خیر هغه ډاکټر صاحب فکر وکی چی دوی ته باید سبق ورکړل سی بس یوه ورځ یې دبازار څخه میټایی راوړل او په پیچکاری سره یې یو یو ځاځکی جمال ګوټه(داسهال دوا) وهر میټایی ته ورواچول او دمیټایی ډبه یې په الماری کی کېښېښول او معمولی غوندی قلف یې ورولګوی، هلکوانو ته خو دغلا عادت ورلویدلی وو، راغله او قلف یې راکش کړی قلف خلاص سو او ښه په خندا خندا یې ټوله میټایی وخوړل لاکن یو ساعت باد یې په نس کی دست بدست جنګ شروع سو، پر دې باندی زما شعر دی

دست بدست جنگ کا عالم
کیا غضب کا جمال گوٹا تھا

ترجمہ: دست بدست دجنګ حال، څه دغضب جمال ګوټه وه

بدنۍ یې په لاس کی تشناب ته روان دی او بیرته راروان دی اُوس یې بدنۍ پر مځکه ایښې نه وی چی بیا په عذاب سی، بدنۍ ایښولو ته نه دی خلاص، اسهال پر اسهال یې کیږی، داسی خطرناکه اسهال یې وسول چی دفاکولټې مُدیر دستی دصحتی ادارې مشر ته او دپولیسو مشر ته ټیلفون وکړی چی زما فاکولټې ته دهیضې مرض راغلی دی ژر راسی، داسی معلومیږی لکه دفاکولټې هلکوان چی مری، هغه څه خبر وو چی دوی پر میټایی باندی عاشق وه دا دهغه انعام دی، دصحتی ادارې مشر راغلی ټولو ته یې پیچکاری ورولګول، هغه څه خبر وو چی دا ټوله غله دی، خیر په یو رقم ټوله ښه سول.

بس همدغه رنګه دالله ﷻ په نافرمانی کی دآرام او قرار خوب لیدل بې عقلی ده، مَالك په خوابدی کولو سره چی څوك دآرام خوب وینی تر هغه بتره لیونی په ټوله جهان کی نسته. دګناه ماضی حال او مُستقبل ټوله ناقراره دی. کوم خلګ چی دګناوو عادت لری، کوم وخت چی هغه ګناه کوی هغه وخت هم دهغو زړونه دربیږی، ناقراره وی چی څوك راته ګوری خو نه او په ماضی کی چی کله دګناه کولو ترتیب جوړوی

هغه وخت يې هم سر تود وی، يو څوك دی هغه وخت پر تندی لاس ورکښېږدی او دهغو مُستقبل هم ناقراره وی چی بدنامه نه سم، څوك انتقام راځخه وانه خلی.

نو دانسان درې زمانې دی ماضی حال او مُستقبل، په ګناوو درې سره زمانې برباد سی، ګواکې دلږ غوندی خوند دپاره دخدای غضب او قهر په رانیولو سره ژوند بربادوی او دغه خبره هم دیاد وږ ده چی په ګناوو سره دسړی نس نه ډکیږی، په تروو اُوبو باندی تنده نه ماتیږی، تروې اُوبه چی سړی څونه چیښی هغونه يې تنده ډېریږی، په ګناه کولو سره دګناوو تقاضې نور هم ډېریږی، دیوې ګناه وروسته به يې بلی ګناه ته زړه غواړی، نتیجه به يې څه وی چی ګناه پریښول به ورته مشکله سی، آخر په هغه ګناه کی به مرګ ورته راسی، هغه وخت به يې څه حال وی؟ دنیا هم ځنی ولاړه او په قبر کی يې سزا شروع سول، په دې خاطر په دنیا کی که جنت غواړې، که په دنیا کی آرام غواړې نو خدای راضی که. زه پوښتنه درځخه کوم چی په ګناه سره نفس څه غواړی؟ آرام خو غواړی که یا! نو زې درښوم چی آرام دخدای په رضا او دهغه په نامه کی دی.

## دانسان تر ټولو لوی دښمن

دُښمن څه آرام راکولای سی؟ نفس خو دُښمن دی، اللهﷻ دی مو دده دشر څخه وساتی، نفس چی په کوم شیانو کی آرام راښکاره کوی په هغو کی آرام نه سی کیدای، نفس تر شیطان لوی دُښمن دی ځکه چی دشیطان تر مخه څوك شیطان وو؟ موږ خو ووایو چی وروره شیطان خطا ایستم لاکن شیطان چا خطا ایستی؟ داغه نفس، دشیطان تر مخه هیڅوك شیطان نه وو، دشیطان نوم خو عَزازیل وو، دملایکو سره اوسیدی، لاکن دده په نفس کی لویی راغله، شیطان نفس خطا ایستی چی ته تر آدمؑ افضل يې، دنفس په خاطر شیطان برباد سو.

نو معلوم سول چی نفس تر شیطان هم لوی دُښمن دی، په دې خاطر هر وخت دخدای څخه (داسی) پناه غواړی﴿**اَللّٰهُمَّ اَلْهِمْنِیْ رُشْدِیْ**﴾ اې اللّٰه! ښې خبری زما په

زړه کی را اچوه ﴿وَاَعِذْنِیُ مِنُ شَرِّ نَفُسِیُ﴾ او ددې نفس دشر څخه ما وساته. دغه نفس دونه لوی دښمن دی چی ګناه څه شی ده نفس خو سړی تر کفره رسوی، څونه خلګ چی دوږخ ته ځی ټوله به دنفس په خاطر ځی، دکفر خاوند به هم او زنا کونکی به هم، او شراب چیښونکی به هم، او رشوت اخیستونکی به هم او بې لمانځه به هم.

ټوله خرابی دنفس خبره په منولو کی ده، نفس وایی چی چیری ځې په یخ کی لمانځه ته، په شړۍ کی تود پروت اوسه، دغه رنګه ددوږخ دګرمی انتظام کوی، تاسی ووایاست هغه ګرمی چی خدای ناراضه کړی، لمونځ په سړی پریږدی ووایاست هغه ګرمی دغُلام دپاره لعنتی ده که یا؟ داسی ګرمی اخوا ته که او دشړۍ څخه راوغورځه او ولاړسه دخدای په کور(مسجد) کی لمونځ وکه بس رب راضی که، بیا به په هر حال کی پر آرام یې انشاءالله.

کله چی یو داسی شکل ووینې چی دهغه وخوا ته دی زړه ورکشیږی نو خپل نظر دهغه خوا څخه واړوه، دالله جل جلاله راښوولې نسخه استعمال که، کله چی زوی په عذاب سی نو دخپل پلار نصیحت په یادوی، کله چی بنده په عذاب سی نو دی دخپل رب نصیحت په یاد کړی، الله جل جلاله خو زموږ خالق دی، اَرحَمُ الرّٰحِمِین دی، تر هغه ښه نسخه موږ ته څوك راښولای سی، الله جل جلاله فرمائی چی کله دیو چا شکل ښه درته معلوم سی، هغه ته دی دکتلو زړه وغواړی نو دستی څه وکه ﴿یَغُضُّوُا مِنُ اَبُصَارِهِمُ﴾ سترګی کښته که او دهغه ځای څخه مخته تیر سه، هلته سترګی هم مه پورته کوه، پر دې فانی شیانو باندی تکیه مه کوه کنې شیطان به دی شاته پریږدی، بس دهغه ځای څخه سترګی وساته او وځغله.

الله جل جلاله فرمائی﴿فَفِرُّوُآ اِلَی اللّٰهِ﴾ چی زما دنافرمانی پر ځای باندی مه پاتیږه، دهغه ځای څخه وځغله، هلته دریدل جائز نه دی، دخدای دعذاب او دغضب پر ځای باندی یوه دقیقه هم باید سړی ونه دریږی ځکه چی کوم انسان ګناه کوی مثلاً نظر

خرابوی نو هغه وخت دخدای دغضب اور باندی اوری، لعنت باندی اوری.

په حدیث کی دی چی﴿لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَیْهِ﴾ اللّٰه ﷻ دی لعنت وکړی پر هغه بنده باندی کوم چی دالله ﷻ حرام کړی شیانو ته ګوری او (پر هغه هم) کوم چی ځان ښکاره کوی لکه هغه ښځه کوم چی خپل ځان بې پرده ښکاره کوی، پر کتونکی نر او پر ځان ښکاره کونکی نر یا پر کتونکی ښځی او ځان ښکاره کونکی ښځی دواړو باندی لعنت اوری، ناظر(کتونکی) هم ملعون(لعنتی) کیږی او منظور(ځان ښکاره کونکی) هم ملعون کیږی پر دواړو طرف لعنت اوری.

## په ګناوو زړه خوشحاله کول بې عقلی ده

اُوس که څوك ووایی چی وروره بیا زړه په څه شی خوشحاله کړو، بیا په دنیا کی څه شی سته؟ فلم کتل ته منع کوې، د وی سی آر څخه ته منع کوې، د راډیو دغزلو څخه ته منع کوې نو موږ چیری ولاړ سو، آیا بس په مسجد کی کېښینو، په مسجد کی خو څوك په نظر هم نه راځی، چاته وګورو، دخدای نوم چی اخلو نو هغه هم په نظر نه راځی نو زموږ ژوند به خوشحاله او خوندور څنګه کیږی؟ ورځی به مو څنګه تیریږی؟

مطلب یې دا سو چی په ګناوو کی ورځی ښه تیریږی، دخپل رب او دخپل پیداکونکی مَالك په خپګان کی ورځی تیروې ته نه شرمیږې، داسی خبره کوې، په دنیا کی که څوك لږ غوندی احسان درباندی وکی نو وایې چی دده په نافرمانی کولو کی شرمیږم لاکن دچا پر مځکه چی اوسیږې، دچا پر مځکه چی تګ کوې دغه مځکه ستا دپلار ده؟ دغه لمر ستا نیکه پیدا کړی دی چی دروښنایی څخه یې ګټه اخلې، دغه سترګی کومی چی ته غلط کاروې یا یې غلط کارول غواړې، دغه سترګی تا دکومه کړی دی، آیا دا ستا ملکیت وې، دا ستا مور و پلار نه دی جوړی کړی بلکې حق تعالٰی جوړی کړی دی، دعقل څخه کار واخله، په سد کی راسه، لیونی کیږه مه، انسان ته خدای عقل ورکړی دی، په ګناوو کی آرام نسته، په کومو

شکلو(ښځو او لغړزنو هلکوانو) کی چی ته آرام حاصلول غواړې کله چی هغه شکلونه خراب سی بیا به چیری ځې په آرام حاصلولو پسی؟

تم نے دیکھیں بگڑتی بہت صورتیں
ان کی صورت بھی اِک دن بگڑ جائے گی

ترجمہ: تا ډېرو شکلو خرابیدل ولیده
ددغه(معشوق) شکل به هم یوه ورځ خراب سی

دغه زما شعر دی، زما یو بل شعر هم دی

حسینوں کا جغرافیہ میر بدلا کہاں جاؤ گے اپنی تاریخ لے کر
یہ عالم نہ ہوگا تو پھر کیا کروگے زحل مشتری او مریخ لے کر

ترجمہ: دښایستو جغرافیه(شکلونه) بدله سول صاحبه، خپل (دعشق) تاریخ به چیری وړې چی دغه (دښایست) عالَم یې نه وی نو بیا به څه کوې، په زحل مشتری او مریخ سره

## قرار صرف دخدای په یاد کی دی

صرف په داغه خبره کی آرام او قرار دی چی ګناوی پریږده او دخدای نوم واخله او دخدای نوم اخیستل زده کړه او هغو بزرګانو ته ورسه چیری چی دالله ﷻ په نامه کی خوږوالی حاصلیږی، چا ته چی الله ﷻ په خپل محبت سره او په خپل تعلق سره عقل عطا کړی دی څو ورځی دهغو سره وه اوسیږه، په خانقاه کی (داولیاوو سره) څلویښت شپې دتیرولو دپاره وخت پیدا که بیا وګوره چی څه درته حاصلیږی، که دیو چا په سږی کی کینسر(یو خطرناکه مرض) سی او ډاکټر ورته ووایی چی ته ولاړسه دمَری شنه غرو ته ، ستا سږی داغ پیدا کړی دی بیا به ولاړسی که یا؟ دخدای ددوستانو سره دروح دناجوړیانو(ګناوو) علاج کیږی، داولیاوو دصحبت څخه خدای حاصلیږی. خدای په نظر خو نه راځی لاکن وزړه ته راځی، په داغه خاطر دنبیانو او اولیاوو پر زړو باندی هر وخت رحمت اوری.

# دخدای دتعلق دبې مثاله خوند دلیل

نبی تنها وی لاکن دټوله جهان یوازی مقابله کوی. نبیﷺ ته کافرانو څنګه شیان ورانډی کړل چی ته زموږ بُتانو ته بد مه وایه، اسلام مه نشروه، دخدای لویی او صفت مه بیانوه، زموږ دبُتانو سره صلح وکړه نو دمکې شریفی کومه ښځه چی ستا خوښه وی موږ یې تا ته درکوو، که یو سلطنت او ملك غواړې نو دټوله عرب سلطنت موږ تا ته درکولو ته تیار یو، تاریخ وګوری چی نبیﷺ څه ورته وفرمایل؟ ورته وې فرمایل که تاسی زما په یوه لاس کی لمر او په بل لاس کی سپوږمی راکښیږدی بیا به هم زه دخدای دوحدانیت دتبلیغ څخه لاس وانه خلم. که دخدای په نامه کی خوند نه وای نو نبیانو او ولیانو به خپل ځانونه نه وای قربان کړی مګر موږ ددغه خوند څخه بې خبره یو ځکه چی دغه خوند دحاصلولو کوښښ نه کوو په دې خاطر موږ داللهﷻ قدر نه لرو لاکن په قبر کی به وګورو چی په کومو شیانو مو زړه پر آراموی دهغو څخه مو څه حاصل کړل او اولیاء به ووینو چی دهغو څه خوندونه دی. اللهﷻ (دانعامو) پارچه په عالمِ غیب کی ایښې ده، که دغه پارچه ښکاره سوې وای نو ټوله کافران به مسلمانان سوی وای لاکن پوه سه حقیقت دغه دی

*جیسی کرنی ویسی بھرنی نہ مانے تو کر کے دیکھ*
*دوزخ بھی ہے جنّت بھی ہے نہ مانے تو مر کے دیکھ*

*ترجمہ:* څنګه چی کوې هغه سی به درسره کیږی که یې نه منې نو وې که وې ګوره
دوږخ هم سته جنت هم سته که یې نه منې نو دمرګ وروسته به یې ووینې

ولی ورونړو تاسی پوه سواست؟ بس پر نبیﷺ او اللهﷻ باندی (کامل) ایمان راوړی او پر آرامه ژوند کول زده کړی او کوم چی دنبیﷺ فرمانبرداره غُلامان دی، کوم چی دسُنت او شریعت پابنده دی هم هغه اولیاء دی بس دهغو څخه دین زده کړی.

## دین دچا خخه زده کړو

په دنیا کی خپل سامان ومزدور ته د ورکولو تر مخه دکمربند سره یې پټې ته ګورې چی نمبر پر سته که یا، دغه مزدور سرکاری دی که یا، که څوك په هر څونه قیمتی لباس کی وی او درته ووایی چی وروره سامان به دی زه درسره پورته کم، چی ته ورته وګورې نو وارخطا کیږې چی معلومه نه ده څوك دی، کیداسی چی دغه سړی زما سامان راخخه وځغلوی، نو دحقیری دنیا یو معمولی بستر ته بیله پیژندنی چا ته نه ورکوې نو ووایه آیا دغه روا ده چی چا ته وغواړې هغه ته خپل ایمان ورکړې، هر څوك چی وغواړې هغه پیر جوړ کړې، که څوك سیګریټ سکوی، ږیره یې خریلې وی بیله فکره هغه خپل پیر جوړ کړې، دیوه بستر دپاره دمزدور نمبر ته ګورې، دایمان دحفاظت دپاره دی هم وکتل چی دچا په لاس کی لاس ورکوم هغه هم سرکاری سړی دی که یا؟ دنبیﷺ دغُلامی علامې په هغه کی سته که یا؟ پر سُنتو باندی دعمل کولو سرکاری نمبر دهغه سره سته که یا؟ یو جعلی پیر په لیدلو سره یو کوچنۍ پوه سو او وپلار ته یې وویل چی دا څنګه پیر دی چی ږیره یې خریله او سیګریټ سکوی روان دی. که دداسی پیر سره څوك مُرید سوی وی نو شرعاً دهغه بیعت(مُریدی) ماتول واجب دی.

## دخدای دوستان څوك دی

اې ورونو داولیاوو ډیر لوی مقام دی، ورونو! دخدای دوستان دلوی درجو خاوندان وی، تهجد کوی، دشپې ویښ وی، داشراق لمونځ کوی، دګناوو څخه ځان ساتی، دقرآن او حدیث ضروری علم دهغو په سینه کی وی، پر شریعت او سُنت باندی په پابندی سره عمل کوی، هغو ته علم وی چی کوم شی سُنت دی او کوم شی نه دی، پیر جوړیدل داسی آسانه کار خو نه دی چی دپیر زوی هم پیر سی، آیا دپیلوټ زوی پیلوټ کیدای سی تر څو چی طیاره په هَواکول زده نه کړی؟ آیا دحافظ زوی حافظ کیدای

سی تر څو چی قرآن شریف حفظ نه کړی؟ همدغه رنګه دولی زوی هم ولی نه سی کیدای تر څو چی داولیاوو عملونه په هغه کی پیدا نه سی.

موږ هغه سړی ښنګه ولی وه منو کوم چی نه لمونځ کوی، نه روژه نیسی، نه دګناوو څخه ځان ساتی، چرس سکوی، بیره خروی او په ښځو باندی پښې چاپی کوی هغه ولی نه دی شیطان دی که لك واره دبزرګانو اولاد وی، دولی دپاره صرف دولی اولاد کیدل کافی نه دی، (په هغه کی) داولیاوو عملونه او داولیاوو اخلاق پیدا کیدل هم ضروری دی او دسنت او شریعت پابنده اوسیدل هم ضروری دی.

## دجانشینی فتنه

لاکن نن سبا چی کومه فتنه پیدا سوې ده دهغه سبب جانشینی ده. دغه غلطه عقیده دخلګو په زړو کی ټینګه سوې ده چی دپیر اولاد هم پیر وی. وګوری څونه اولیاء چی تیر سوی دی دهغو اولادونه هم عموماً صالح وه لاکن دیو او دوه پښت وروسته هغه بدعمله سول، لمونځ او روژه یې هم پریښول کله چی بدعمله سول نو فکر یې وکی چی اُوس به روزګار دکومی خوا چلیږی، دپلار او نیکه دینی میراث خو یې حاصل نه کړی او دنیا دپیدا کولو صلاحیت هم نسته پکښی کی، په مفت خوړلو سره سُست او بې کاره سی او عمل خو ورسره سته نه، قرآن او حدیث خو یې ویلی نه دی نو فکر کوی چی (راسه) دپلار او نیکه هډوکی خرڅوه او پر قبرو باندی خلګ راټول که او ډول او طبله واهه او قوالی کوه کنې خلګ به ښنګه راټولیږی، دخلګو دخطا ایستلو دپاره یو څه خوندونه خو هم باید وی په دې خاطر وریجی په خوره، طبله واهه، قوالی کوه او یو څو کرامات دخپلو بزرګانو بیان کړی چی دخلګو عقیده ورته سمه سی چی دبزرګانو اولاد دی او دخلګو څخه یې پیسې درا ایستلو دپاره دغه غلطه عقیده مشهوره کړل چی دبزرګانو اولاد هم بزرګ وی که څه هم بد عمله وی نَعُوذُ بِاللّٰه!.

دغه بیخې جاهلانه عقیده ده چی دپیر اولاد هم پیر وی، (مثلاً) که دلته یو

څوك دکیمیایي موادو رئیس ته دغه ووایي ځکه چي ما د ایم ایس سی سبق ویلی دی په دغه خاطر زما زوی هم ایم ایس سی ومنه او هغه ته دلې کار ورکه نو رئیس به څه ووایي چي دی ددماغ ډاکټر ته ورولې ځکه چي دده دعقل یو پیچ سُست سوی دی. ښه ګوره تا یو موټر رانیوی او یوه موټروان ته دي وویل چي زما موټروان پکار دی، هغه درته وویل چي ورروره زه خو ډیر مصروفه یم ته زما زوی درسره موټروان که، تا پوښتنه ځني وکړل چي آیا زوی دي موټر چلول زده کړي دي؟ هغه درته وویل چي زده کړي خو یې نه دي لاکن دموټروان زوی دی، چي ته دپیر دزوی سره مُرید کیږې نو دې هم (موټروان) ومنه، نو آیا ته هغه موټروان کوې؟ ورته وبه وایې چي ورروره دې به ما هم مړ کی او موټر به می هم را برباد کړی او که دي څوك ایمان در برباد کړی دهغه پروا نسته درسره، آخرت چیری چي همیشه اوسیږو هغه که برباد سی دهغه پروا نسته درسره، دپیر زوی چي هر څونه بدعمله وی هغه پیر جوړولو ته تیار یې.

اې ورروره ته دپیر په قصه کی یې، دنبی حضرت نوح؈ دزوی په باره کی په قرآن پاك کی راغلی دی ﴿**اِنَّهٗ لَیۡسَ مِنۡ اَهۡلِکَ**﴾ دغه ستا اولاد نه دی نالایقه دی. اولاد که نالایقه وی نو دپلار وطرفته دهغه تعلق نه کیږی، وګوری قرآن اعلان کوی ﴿**اِنَّهٗ لَیۡسَ مِنۡ اَهۡلِکَ**﴾ که څه هم حضرت نوح؈ فرمایلی وه چي اې اللّٰه! دغه زما زوی دی دته نجات ورکه، اللّٰه جلّ جلالهٗ ورته وفرمایل چي یا، دې ستا لایق نه دی ځکه چي زموږ پر طریقه نه دی، زموږ خبره نه منی نو چي دې زما نه دی نو ستا به څنګه سی، حضرت نوح؈ ته اللّٰه جلّ جلالهٗ فرمائی چي اې نبی ته خو زما یې لاکن دغه ستا زوی زما نه سو جوړ، پر ما یې ایمان نه راوړی لهٰذا ستا څنګه کیدای سی، څوك چي زما نه دی ستا هم نه دی. داسی تعلق باید وی.

ولی ورروره که څوك ستا ددوستی دعوه کوی لاکن ستا ددُښمن سره که په پَـټه چای چیښی، خندا او خبری ورسره کوی نو دهغه څخه به ستا زړه مات سی چي

دغه سم سړی نه دی، دپیسو سړی دی، چیری چی چای او هګۍ ووینی هلته ولاړسی. لږ څه فکر وکه اللهﷻ عقل درکړی دی. دمثال په توګه دُښمن درپسې دی او هغه برق درکوی، بعضی په برق کی زهری او کیمیاوی مواد واچوی چی په هغه سره ټوله بې سده سی نو ته باید وګورې چی دښار دبرق تر مرکزه پوری دهغه تار سته که یا او که دُښمن یو ځای خیمه لګولې ناست دی او هغه خپل تار پر تړلی دی. بس هغه دین کوم چی نبیﷺ واصحابو ته عطا کړی وو او دهغه سره چی کوم تار تړلی دی هغه سُنت او شریعت دی.

## دجعلی پیرانو دوکه

لاکن جعلی پیرانو په هغه کی بدعت شامل کړی، لُنګ یې وهلی چرس سکوی لاکن نادانه او جاهله خلګ دغه فکر کوی چی وروره دیٚ ډیر رسیدلی دی، دده په حُکم سره دغه لمر او سپوږمی رفتار کوی، دغه لُنګ چی یې وهلی ناست دی لمونځ دیوه وخت نه کوی (لاکن) ته څه خبر یې چی دده څه مقام دی، دده چرس سکولو ته مه ګوره، دده خریلی ږیری ته مه ګوره، دوی دډیر لوړ مقام خلګ دی، دا دملایانو پر خبره مه کیږه، دقرآن او حدیث خبری مه منه، دروحانیت لاره جلاده او دملایانو لاره جلا ده، دسُنت او شریعت لاره جلا ده، دطریقت لاره جلا ده، نَعُوذُ بِاللّٰه ددوی په نیز دقرآن او حدیث لاره جلا ده او دصوفیانو لاره جلا ده. اللهﷻ په قرآن پاك کی فرمائی

**﴿وَاِذَاسَئَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًافَاسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَاءِ حِجَابٍ﴾**

اې زما دنبی اصحابو، دچا په وخت کی چی دجبرئیلؑ تګ او راتګ کیږی او دچا ومخته چی پر نبی باندی قرآن نازلیږی او دنبیﷺ په غیږ کی چی دچا تربیت کیږی هغو(اصحابو) ته اللهﷻ فرمائی چی کله تاسی زما دنبی دښځو څخه سوال کوی یا دبازار څخه دسودا راوړلو دپاره پوښتنه ځنی کوی نو دپردې تر شا پوښتنه ځنی وکی، ګوری دننه مه ورځی. ولی وروره تر اصحابو زیات بل څوك پاکیدای سی دهغو

ښځه (په بې بيګانو) خو پرده کول کېږي او دنبي عليه السلام ښځې کوم چې دونه پاکې دي چې دامّت مندي دي، چېرې چې قرآن نازليږي، کوم کور ته چې جبرئيل عليه السلام راروان دي داسې پاکه او ښايسته کورنې هلته خو پرده وي او دنن پير وايي چې اې وروره دمُلايانو په قصه کې مه کيږه، خلګ هم ناست دي ښځې هم ورسره ناستې دي او قوالي شروع دي او حال هم پر راروان دي.

يو سړی دلالوکهيت(کراچي) ديو پير سره مُريد وو، هلته به قوالي کيدلې. په مسجد کې دجماعت لمونځ کيدی او هلته قوالي شروع وې، هيڅوك مسجد ته دجماعت دپاره نه ولاړی، دا څنګه خبره ده چې په خلګو لمونځ او روژه پريږدی او طبله په وهی ګواکې نَعُوذُ بِاللّٰه طبله عبادت دی. لږ فکر وکی چې ستاسی نبی هم يو وخت طبله وهلې ده، ماته يې په يو حديث کې راښکاره کړی دټولو تر مخه زه په تاسی طبله وهم، که نبي عليه السلام په ژوند کې يو وخت طبله وهلې وای، دقوالي سازونه يې وهلي وای، قوالي سوی وای، خلګ پورته پورته غورځيدلي وای نو دبُخاری شريف او دحديث په نورو کتابو کې به ټوله راغلي وای ځکه چې اللّٰه جل جلاله فرمائي چې ددغه دين حفاظت پر ما دی، په دغه دين کې هيڅوك (دځانه) شی نه سی ګډولای.

اللّٰه جل جلاله فرمائي چې ما قرآن نازل کړی دی او حفاظت يې زما پر غاړه دی، توريت او دانجيل خبره پريږده، د اول آسماني کتابو دحفاظت ذمه اللّٰه جل جلاله نه وه اخيستې، هغه يې د ترمخه اُمتو دعُلماوو پر ذمه کړې وه، هغه نسور سول او آسماني کتابونه يې خرڅول شروع کړل او لاس يې پکښې وواهه، لاکن دقرآن او دحديثو حفاظت اللّٰه جل جلاله پر خپله غاړه اخيستی دی، لهٰذا ددې جاهله پيرانو په ويلو سره طبله او ساز دين نه سی جوړيدای، دين تر قيامته پوری به هغه وی کوم چې داللّٰه رسول راوړی دی، څوك چې دنبي عليه السلام پر دين باندی عمل نه کوی هغه اصلي مه بوله، پير هغه ته ويل کيږی کوم چې دنبي عليه السلام فرمانبرداری کوی، څوك چې دنبي عليه السلام پر نقشِ قدم باندی

روان وی او څوك چې بې پرده د ښځو سره وینی هغه هیڅکله پیر نه سی کیدای، هغه بد سړی دی. نبی ﷺ چې د صحابیاتو څخه، د نامحرمه ښځو څخه پرده کړې ده نو څه وجه دی چې د نبی ﷺ غُلامان پرده و نه کړی، دا غُلام نه دی بلکې نالایقه غُلام دی، نافرمانه غُلام دی. څوك چې د انجونو او ښځو څخه پرده و نه کړی هغه پیر نه دی ټګ دی. د قیامت په ورځ صرف د نبی ﷺ غُلامی په کار راځی، د نبی ﷺ نقشِ قدم په کار راځی، د نبی ﷺ نقشِ قدم سړی تر جنته پوری رسوی، زما شعر دی

*نقشِ قدم نبی کے ہیں جنت کے راستے*
*اللہ سے ملاتے ہیں سُنت کے راستے*

*ترجمہ:* نقشِ قدم د نبی ﷺ د جنت لاره، تر اللہ ﷻ پوری رسوی د سُنت لاره

د نبی ﷺ د نقشِ قدم ماسوا هره لار ګمراهی ده، پر دغه باندی زما نور شعرونه دی

*جو چلا نقشِ پائے نبی پر*
*کامراں ہے وہ دونوں جہاں میں*
*مومن جو فِدا نقشِ کفِ پائے نبی ہو*
*ہو زیرِ قدم آج بھی عالم کا خزینہ*
*گر سُنتِ نبوی کی کرے پیروی اُمّت*
*طوفاں سے نکل جائے گا پھر اس کا سفینہ*

*ترجمہ:* څوك چې د نبی پر لاره ولاړی کامیابه سو په دواړه جهانو کی، مومن که د نبی پر نقشِ قدم ولاړسی نو نن به یې هم د ټوله دنیا خزانې په پښو کی وی، که د نبی پر سُنت باندی اُمّت عمل و کی نو د طوفان (تکلیفو) څخه به یې کښتۍ ووزی.

## د قوالی په سترګو لیدلې قصه

نبی ﷺ وفرمایل چې زه د غزلو او ساز د ختمولو د پاره راغلی یم نو طبله او سازونه ځنګه دین کیدای سی. نو د لالو کهیت هغه مُرید خپل په سترګو لیدلې قصه راته وکړل

چی کله پر طبـله باندی قوالی شروع سوې نو ځوانان هلکوان او انجونی ټوله یو ځای ناست وه، هیڅ پرده نه وه، په دغه وخت کی پر بعضو باندی حال راغلی، انجونی هم غورځیدلې، هلکوان هم غورځیدل نو یو ځوان پر فرش باندی بې سده سو او چپه سو او لغړیدی، په لغړیدو کی یې ټوله پرتوګ په منی ولړل سو یعنی انزال یې وسو، چا چی دغه ولیدل هغه توبه وکښل چی دغه کار که پاك وای نو دغه هلك ولی ناپاکه کیدی، په لمانځه کی دچا منی راتلای سی؟ په تلاوت کولو کی ځوك ناپاکه کیږی؟ معلوم سول چی دکومو انجونو شکل یې لیدلی وو په غورځیدو کی یې هغه ومخته راغلی او په لغړیدو لغړیدو کی یې په فکر کی دهغې سره ټوله شیان(زنا) وکړل. نو ووایاست دا څنګه عمل دی.

## ساز او سورنا بې ایمانی پیدا کوی

نبی ﷺ فرمائی

﴿اِنَّ الْغِنَاءَ یُنْبِتُ النِّفَاقَ کَمَا یُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ﴾

غزلی بې ایمانی پیدا کوی څنګه چی اُوبه شین ګیا راپورته کوی

حضرت عبدالله ابنِ مسعود رضی الله عنه فرمائی ﴿اَلْغِنَاءُ رُقْیَةُ الزِّنَا﴾ غزله دزنا منتر دی یعنی زنا پیدا کوی. دامریکا څخه یو ځوان کراچی ته راغلی دهغه پلار ډیر نیك تهجد ګزاره سړی وو او دحضرت تهانوی رحمة الله علیه سره مُرید وو نو هغه ځوان راته وویل چی صاحبه غزله شریعت ولی منع کړې ده، موږ په امریکا کی اوسیږو خاص غزلی اورو، هلته خو هر وخت غزلی دی، ما ورته وویل چی غزله په دغه خاطر شریعت منع کړې ده چی دغزلی وروسته دزنا تقاضې شروع سی، دکومی انجلی آواز چی ښه وی آیا دهغې وخوا ته غلط خیالونه نه ورګرځی؟ پردغه خبره باندی هغه ډیر خوشحاله سو او راته وې ویل چی بس صاحبه په خبره می سر خلاص سو، بس دننه څخه غزلی نه اورم.

# هره ګناه تاوانی ده

شریعت چی کوم شی منع کړی دی زموږ دفائدې دپاره یې منع کړی دی. ځونه ګناوی چی دی په هغو سره صحت هم خرابیږی، ښه ماته یوه ګناه داسی راوښوی چی دبندګانو دپاره دفائدې وی. پلار که زوی دیو شی څخه راوګرځوی نو آیا هغه شی دفائدې کیدای سی؟ دګټی دکاره څخه پلار خپل اولاد راګرځولای سی؟ نو د رب په باره کی آیا ته دا غه فکر کوې چی دپلار درحمت خالق او دمور درحمت پیدا کونکی هغه به موږ دګټی دخبرو څخه منع کړی؟ په کوم شی کی چی زموږ تاوان وو دهغو شیانو څخه یې منع کړو مثلاً نامحرمه ښځو ته دی وکتل نو کیدای سی چی هغه دی ډیره خوښه سی او ته پر خپلی ښځی باندی ظلم شروع کړې، دبدنظری څخه شریعت په دغه خاطر منع کوی. نن ځونه کورنۍ ژاړی، اخوا دیخوا ته یې نظر واچوی او زړه یې هلته مین سو، اُوس نو ښځه بیچاره یې سهار و ماښام ژاړی، وایی چی تعویذ راکه خاوند خو ما ته ګوری هم نه، دهغه زړه دبلی انجلی سره لګیدلی دی. دټوله کور آرام ختم سی.

وګوری شریعت دنظر دحفاظت حُکم راکړی دی په دې کی ځونه فائده ده ځوك چی ځونه دنظر حفاظت کوی، ځونه پرهیزګاره وی هغه چی دخپلو ښځو سره څنګه محبت کوی دهغه مثال نه سی پیدا کیدای او کوم خلګ چی په بدنظری اخته دی دهغو اخلاق خراب دی، دهغو ښځی ژاړی، پوښتنه زما څخه وکی، ما ته خو دغه ټوله خبری راځی، بعضی ښځی په ژړا وایی چی صاحبه! زړه می غواړی چی زهر وخورم، میړه می وپلانی ښځی ته ورځی، دشپې پر دوولس بجې راځی، زما سره سمی خبری نه کوی او راته وایی چی ته زما نه یې خوښه په دغه خاطر زه وپلانی ښځی ته ورځم، زما څخه مخ واړوی بیده سی. په بدنظری سره کور دوږخ سی.

په دې خاطر ځوك چی ځونه دشریعت پابنده دی (هغونه) پر آرامه دی، دهغه کورنۍ هم پر آرامه ده. په دې خاطر دیو خدای ددوستی او دینداری ښځی څخه خاوند

پوښتنه وکړل چې آيا زه ږيره پريږدم نو ښځې ورته وويل چې بيځې يې پريږده، ته چې کله ږيره پريږدې نو به ته يوازې زما يې، دبل چا به نه کيږې ځکه چې ښځې نن سبا ږيرې والا نه خوښوی په دغه خاطر ژر ږيره پريږده. دغه ستاسې دښار حيدرآبا قصه ده، دا ددې ښځې دډيرې ايمانداری خبره ده. ښه ښځه خو غواړی چې زما خاوند دخدای دوست سی، دنبیﷺ دسُنتو غلام سی، نو زه ودغه ښځې ته سلام کوم چې ډيره لايقه ښځه ده، خدای دی لوړی درجې ورپه نصيب کړی او خدای دی خير ورکړی.

## دنبیﷺ دراوړی دين پيژندنه

نو دلالوکهيت دجعلی پير قصه روانه وه، دهغه يوه مُريد چې دغه وليدل چې دلته په قوالی کی انزال کيږی، نر او ښځې يوځای ناست دی، طبله او سورنا شروع ده، پر وريجو او غوښو باندی شخړی کيږی، دجماعت لمونځونه پريښول کيږی، قوالی اوريدل کيږی لمونځ پر قضا کيږی نو دهغه په زړه کی فکر پيدا سو، هغه زما ځخه پوښتنه وکړل، ما ورته وويل چې ګوره اللهﷻ چې کوم دين نازل کړی دی په هغه کی نَعُوذُبِاللّٰه داسی خرافات کيداسی؟ آيا دنبیﷺ په زمانه کی يو وخت طبله وهل سوې ده؟ آيا حضرت علیؓ طبله وهلې ده سورنا يې وهلې ده، قوالی يې کړی دی؟ آيا دنبیﷺ پر قبر باندی اصحابو جنډۍ پورته کول؟ او هلته دغه طبلې وغيره وهل کيدلې کوم چې نن سبا پر قبرو باندی وهل کيږی؟.

ولی ددين په پاك پيپ کی دغيرِ دين مُرداره واله ګډه وې. که دښار دپاکو اُوبو په پيپ کی دمُردار لښتی اُوبه ګډې سی او په چيښلو کی يې بدبوی ځی نو ټوله نعرې شروع کړی چې داُوبو په پيپ کی لښتی ګډ سوی دی، بدبوی يې ځی، موږ او زموږ کوچنيان به ناجوړه سو. آه! نبیﷺ چې ددين کوم پاك او صاف پيپ راته عطا کړی وو نن يو ځو شيطان قسمه خلګ په هغه کی دبدعت او شرك لښتی ګډه وی او نتيجه يې څه ده، وې ګوری خلګ مُشرك او بدعتيان جوړيږی. دهر بدعت عذاب دغه دی

چی چیری بدعت وی هلته سُنت ختم سی. څونه چی لوی لوی بدعتی پیران دی زه دهغو څخه پوښتنه کوم چی راته ووایاست د اوداسه څو سُنتونه دی، دلمانځه څو سُنتونه دی مسجد ته دی دتګ او راتګ سُنت راوښووی، دبیدیدو دوخت دعا دی راته ووایی دخوب څخه د راپورته کیدو دوخت دعا دی راته ووایی، ځان ته عاشقِ رسول وایی او درسول اللهﷺ دسُنتو علم نسته ورسره، بس په دې خاطر هغه مُرید دلالو کهیت دجعلی پیر سره بیعت(مُریدی) مات کړی او دیو صحیح پیر په سلسله کی داخل سو.

## دحضرت پیر محمد شاه سلونی رحمة الله علیه قصه

دهندوستان په ضِلع رائې بریلی کی یو ښار دی سلون، هلته یو ډیر لوی بزرګ تیر سوی دی پیر محمد شاه سلونی رحمة الله علیه. دی (دمُغل پاچا) عالمګیر رحمة الله علیه په وخت کی وو او دونه لوی بزرګ وو چی پاچا عالمګیر دته خط ولیکی چی زه پر حیدرآباد دکن باندی دحملې دپاره ځم، ډیر مصروف یم که ته دډهلی دبزرګانو دقبرو وزیارت ته راسې نو موږ ته به هم ستا زیارت راپه نصیب سی نو پاچا ته څه جواب لیکی، ما هغه جواب خپله ویلی دی، چاپ سوی دی، لیکی چی

*فقیر را با بزم سُلطانی چه کار، کریمے دارم چوں گرسنه می شوم مہمانی می کند*
*چوں بخسپم پاسبانی می کند کریمے ما بس باقی هوس*

یعنی فقیر دپاچاهانو دقصر سره څه کار لری، زه دیو کریم ذات سره تعلق لرم یعنی داللهﷻ سره کله چی وږی سم نو هغه زما میلمستیا کوی، کله چی بیده سم زما حفاظت کوی، زما کریم زما دپاره کافی دی نور ټوله هوس دی. داسی شان یې وو، دغه جواب یې ورکړی، دونه لوی ولی الله وو.

## دجعلی جانشینو حال

لاکن دداغه بزرګ په خاندان کی یو جانشین داسی شیطان دی کوم چی دوې دوې

بدکاره ښځی دځانه سره دآس په ګاډۍ کی کښېنوی. دهغه سره يو سړی مُريد سو، داسی مُريدان هم ړانده وی، زه وايم چی خدای دی مو دداسی ړانده پيری مُريدی دلعنت څخه وساتی، دهغه دغه مُريد يوه ورځ ماته ناظم آباد(کراچی) ته راغلی، اشپز وو، دواخانه داسی ځای دی چيری چی هر رنګه خلګ راځی، ما دهغه څخه پوښتنه وکړل چی ته دچا سره مُريد يې؟ هغه راته وويل چی صاحبه زه دسلون دضلع رائې بريلی دپير صاحب مُريد يم، اُوس نو زه پوه سوم چی دیٔ خو دهغه ځای نوم اخلی چيری چی هغه دوکه بازه پير اوسيږی، نو ما ورته وويل چی ښه ته دسلون اوسيدونکی يې؟ هغه راته وويل وه زه مُريد يم دپلانی پير، ما ورته وويل چی ښه ته دهغه پير سره مُريد يې، هغه خو دښځو څخه پرده نه کوی، هغه راته وويل چی وو صاحبه پرده خو نه کوی بلکې دوې دوې ښځی چی زانيه بدکاره دی هغه يې يوې خوا او بلی خواته وی لاکن پير صاحب ډير پرهيزګاره سړی دی هيڅ نه ورسره کوی، پرتوګابښ يې نيولی وی، ډير ټينګ دی، هغه ته څه مه وايه ډير پاك او صاف سړی دی يوې خوا او بلی خواته يې ښځی وی، بس په هغو صرف زړه خوشحاله کوی، ماته ډيره خندا راغلل چی بيچاره نادانه دی، هم داسی نادانه خلګ جعلی پيران په خپل دام کی نيسی، کله وايی چی زه په مکه شريفه کی لمونځ کوم او مسجد ته نه ځی، بې لمانځه دیٔ او دغه يې دپټولو دپاره داسی خبره جوړه کړې ده چی زه په کعبه شريفه کی لمونځ کوم.

اُوس وواياست يو لوی تر لوی دخدای دوست لکه جنيد بغدادی، بايزيد بُسطامی، خواجه معينُ الدّين چشتی اجميری، حضرت شيخ عبدُالقادر جيلانی صاحب دغه بزرګانو يو وخت ويلی دی چی موږ په کعبه شريفه کی لمونځ کوو، دغه اولياوو عمری دسُنت په مطابق په خپلو خپلو مسجدو کی لمونځونه کول. اللّٰهُ اکبر! دغه وه پاخه لمونځ ګزاره او دسُنتو عاشقان او ددغه جعلی پيرانو حال دا دی چی لمونځ کوی نه او دخلګو دخطا ايستلو دپاره دغه وايی چی موږ په کعبه شريفه کی لمونځ کوو.

نو ما وهغه سړی ته وویل ګوره چی نبیﷺ دېنځو څخه پرده کړې ده نو دغه پرده چی نه کوی دغه ستا پیر دا شیطان دی شیطان دهغه مُریدی دستی پرېږده، هغه راته وویل چی اې صاحبه داسی خبری مه کوه هغه به زما ښځه راماته کړی تاسی وواياست دهندوستان څخه هغه بیله پاسپورټه په هَوا راځی مګر بیره يې وګوری بې عقلان خلګ شیطان هم وبیروی (وايی) که ما مُریدی ورسره ماته کړه نو زما ښځه به ماته سی، نو هغه راته وویل چی صاحبه پیر به می دهغه ځایه څخه ښځه راماته کړی، دهغه ځایه څخه به ما ایرې کړی، ډیر جلالی پیر دی، ماته خندا راغلل، ما دغه فکر وکړی چی دی بیچاره ساده دی باید پوه کړل سی ما ورته وویل چی ښه غوږ ونیسه ته دمُفتی صاحب سره مُرید سه، هغه ته ما دغه نه دی ویلی چی ته زما سره مُرید سه کنې هغه به په شك کی سوی وای چی دی ما په خپل دام کی نیسی او دهغه پیر څخه می لیری کوی نو په داسی وخت کی اللهﷻ هوښیاری راکړل ما ورته وویل چی ګوره دلته یو بزګ عالم دی او دغه مُفتی صاحب دسُنت او شریعت پابنده دی او هغه پیر کوم چی د دوو دوو ښځو سره اوسیږی هغه خطرناکه پیر دی، دشریعت خلاف دی، زه دهغه ځای اوسیدونکی یم، زه هلته اوسیدلی یم، ما ورته وویل چی هلته غزلی او رقصونه کیږی، نه لمونځ نه روژه دا ټوله دخوراك او دپیسو قصې دی پر سړی باندی لږ حال راسی کوم چی دهغه جال دی او پر حال باندی ما هغه ته یو شعر وویلی

حال تیرا جال ہے مقصود تیرا مال ہے

کیا خوب تیری چال ہے لاکھوں کو اندھا کردیا

ترجمہ: حال ستا جال دی مقصد ستا مال دی

څنګه ښه دی چال دی په لکهاوو خلګ دی ړانده کړل

دا دخوراك او دپیسو قصې دی بل هیڅ شی نسته، چیری چی سُنت او شریعت نه وی هلته ددنیا قصه ده. هغه راته وویل چی ښه صاحبه که زما ښځه ماته سول نو به څه کوم،

ما ورته وویل چی اول به زما پښنه راماته کړی ځکه چی هغه که خبر سی نو به پوه سی چی زه تا دهغه څخه لیری کوم نو اول به زما پښنه راماته کړی بیا ستا پښنه ماتیږی او ما ورته وویل چی زه ستا پښنه وماتولو ته نه پریږدم بې غمه اوسه، هغه ته می ښه اطمنان ورکړی او دمُفتی صاحب سره مُرید سو او ددنیا څخه پر ایمان ولاړی او الحمدُلِلّٰه دشرك او بدعت او دکفر څخه توبه په کښلو سره ولاړی، بس دچا دا چی خدای ورسمه کړی نو دهغه څه پوښتنه کوې. دخدای شکر دی چی ددې واری دکشمیر په سفر کی دډیرو جعلی پیرانو کاروبار اللّٰهﷻ زما په ذریعه ختم کړی، ډیرو توبه کونکی خلګو راته وویل چی زموږ په ژوند کی نوی ژوند راغلی. دغه جعلی پیران خو پیسه هم وړی او صحت هم دسړی ورخراب کړی، ټوله شپه سړی بې خوبه ساتی، خوراك او چیښل پر بند کړی او داسی ذکر په کوی چی دسړی دماغ خراب سی.

## دبعضی جعلی پیرانو په سترګو لیدلی قصې

چی زه د اوولسو کالو وم نو زه دپیر په تلاښ کی سوم، زه وخانقاوو ته ولاړم. په اِلهآباد(هندوستان) کی دوولس خانقاوی دی، دوولس پیران پکښی ناست دی او په ټولو خانقاوو کی قبرونه دی، دغه عجبه خبره ده چی دپیر دپاره قبر ضروری دی که څه هم خر مړ سی پر هغه ځای به قبر پر جوړ کړی، که سپی مړ سی پر هغه ځای به قبر پر جوړ کړی او قوالی به پر شروع سی بیا یې وګوری دهغه قبر څخه به ټوله خواستونه کوی چی بابا ماته زوی راکه، زما دعوه راوګټه، زما واده راوکه او په قبر کی دننه انسان هم نسته سپی پروت دی او خلګ بیروی چی (په قبرکی) ډیر جلالی بزرګ دی، دمزار پر سر مرغه هم نسی الوتای، څوك ایرې کوی، په دغه خبرو باندی خلګ په شرك اخته کړی او دایمان په بربادولو سره پیسې ګټی.

خیر زه یوه پیر ته ورغلم، زما عمر هم کم وو، زه په تلاښ کی وم چی دخدای یو دوست پیدا کم نو زه به هم دهغه څخه دخدای محبت زده کړم، یو ځای می ولیدل چی

يو پير صاحب ناست وو او دهغه پير صاحب كه لباس دروښوم نو تر بدكاره ښځو كم نه وو، ده وريښمو شين قميص يې اغوستى، پر خولې يې ستورى كار سوى او ستركى يې تورى كړى وې، بيا وروسته قوالي شروع سوې، ما وكتل چى پر يو سړى باندى حال راغلى او دحال دراتلو وروسته هغه دپير صاحب پر پښو باندى دسجدې دپاره ولويدى، سمه سجده يې ورته وكړل، سجده چى صرف دخداى دپاره خاص ده دخداى ماسوا وبل چاته سجده كول حرامه ده لاكن هغه وپير ته سجده وكړل او پر هغه سړى پيسې پاشل كيدلې، وايى چى پر چا باندى حال راغلى هغه كامیابه سو او دهغو په فكر ولى الله سو حالانكه زموږ بزرګانو فرمايلى دى چى پر مار باندى هم حال رائحى، كه دهغه ومخته تولكه ووهل سى نو مار هم زنګيږى بيا نو هغه هم ولى الله وبولى.

اې وروره په حال سره څوك ولى الله نه جوړيږى، ولى الله خو دسُنت او شريعت په پابندى سره او دخداى په فرمانبردارى سره جوړيږى، كه پر حال باندى دخداى دوستى واى نو ټوله ماران به وليان واى، كه حال دخداى ددوستى دپاره شرط دى نو د مار سره مُريد سه، (په چيچلو سره به دى) ډير ژر وخداى ته ورسوى. دغه چى ما وليدل چى هغه وپير ته سجده وكړل او پير صاحب هغه نه كړى منع او ځان ته يې سجده په وكړل نو ما وويل چى اې خدايه! نبى عليه السلام ومخلوق ته سجده كول حرام فرمايلې ده او حضرت آدم عليه السلام ته چى ملايكو كومه سجده كړې وه هغه تعظيمى(احترامى) سجده وه، دهغه وروسته په شريعت كى دعمر دپاره تعظيمى سجده منع سول.

نبى عليه السلام فرمائى چى وغيرالله ته سجده كول حرام ده تر دې حده يو صحابى پوښتنه ځنى وكړل چى يا رسول الله صلى الله عليه وسلم آيا زه تاته سجده كولاى سم؟ ورته وې فرمايل چى يا، تر دې حده هغه صحابى پوښتنه ځنى وكړل دمشكوٰة شريف حديث دى چى كله زه السَّلامُ عَليكم درته وايم نو آيا لږ كښته كيږم نو نبى عليه السلام ورته وفرمايل چى

کښېنته کېږه هم مه، سیده درېږه سلام کوه. کوم نبي چې خپل ومخته سر کښېنته کول منع کړل نن دغه اُمّتیان (په خلګو) ځان ته سجده کوي، کله چې ما ولیدل چې دغه پیر (په خلګو) ځان ته سجده کوي نو ما دغه ځای څخه وځغستل او پوه سوم چې دغه ګمراه خلګ دي.

یوواری مې ولیدل چې دیوه پیر صاحب بسته په لاس کې په هوایي میدان کې ولاړ وو، په رنګه کالو کې چې ستوری پر کار سوی وه ، دپیر صاحب سره یوه شل کلنه انجلۍ ورسره وه، دپیرصاحب عمر اتیا کاله وو او انجلۍ دشلو کالو وه، معلوم سول چې دډاکټري دفاکولتې انجلۍ يې مُریده سوې ده او په بسته کې يې دمردانه طاقت ګولۍ وې، په لاهور(پاکستان) کې يې دعوه وه، دقاضي ومخته دهغې انجلۍ پلار وویل چې دغه انجلۍ زما لور ده، دغه پیر خطا ایستلې ده، قاضي صاحب ته زما لور ځنی را واخله، پیر صاحب انجلۍ پوه کړې وه چې ګوره که ته زما سره واده وکړې نو ټوله مُریدان به دې پښې درمچوي او ډېر عزت به دې کېږي او پیر ورته وویل چې زه به هسپتال درجوړ کم، په کروړو روپۍ زما سره راسره دي، هغې انجلۍ هم په لالچ(طمع) کې وقاضي ته وویل چې زه دخپل پلار سره نه ځم، زه دداغه پیر سره اوسیږم، بیچاره مور وپلار يې په ژړا بیرته راغلل. په کوچنیوالۍ زه دخدای په تلاښ کې یو بل پیر ته ورغلم کوم چې دمُریدانو چرګان په خوړلو سره ګواکې دچرګانو قبرستان جوړ سوی وو، پر دې باندې زما یو شعر دی

*ہزاروں مُرغے بنا کے مدفن ترے بدن میں جو سو گئے ہیں*
*انہی کے دم سے یہ تیرے اعضأ بھی موٹے موٹے سے ہو گئے ہیں*

*ترجمہ:* په زرهاوو چرګان چې دا ستا دنس په قبرستان کې پراته دي
دهغو په برکت سره دا ستا اندامونه هم پنډ سوي دي

او دجعلي پیرانو وکلي ته دراتګ خبر په اوریدو سره ټوله چرګان وارخطاسي

سارے مُرغے یہ خبر سن کے سہم جاتے ہیں
جب وہ سنتے ہیں کہ بستی میں کوئی پیر آیا

ترجمہ: ټوله چرګان دغه خبره په اوریدو سره وارخطا سی
چی کله هغه خبر سی چی کلی ته یو پیر راغلی

او جعلی پیر کوم چی وخپلو مُریدانو ته داسی وایی

بغل میں تو اگر مرغی نہ لایا
برابر ہے کہ تو آیا نہ آیا

ترجمہ: که تا په بغل کی چرګ نه راوړی نو ستا راتګ او نه راتګ یوه خبره ده

دا ټوله زما شعرونه دی، نو ما دهغه پیر څخه پوښتنه وکړل چی زه دخدای په تلاښ کی یم، خدای څنګه حاصلیږی، هغه راته وویل چی وو صاحبه دلته ذکر (خلګوته) ورکول کیږی لاکن دونه ذکر په (خلګو) کیږی، دونه زبردسته ریاضت په خلګو کیږی چی یو مُرید پوره وزګړی وخوری، ما ورته وویل چی زما په نس کی خو دونه ځای نسته، زه خو دوزګړی دخوړلو وروسته مرم ځکه چی ما (هغه وخت) په طِبیه کالج(فاکولته) کی طبابت ویلی، طبیب ته دا ټوله شیان ورمعلوم وی، ددې وروسته دهغه ځای څخه هم ولاړم.

## داولیاوو عظمتونه

زما دکوچنیوالی څخه دغه طبیعت وو چی دحق تعالیٰ ذات داولیاوو څخه حاصلیږی لاکن شرط دغه دی چی (دچا څخه دین زده کیږی) هغه باید ولی اللّٰه هم وی. مولانا انور شاه کشمیری رحمة اللّٰه علیه فرمایلی وه چی اې بُخاری شریف ویونکی عُلماوو واوری داولیاوو تر چپلکو لاندی دخاورو چی کومی ذرې دی هغه دپاچاهانو دتاجو تر غمیانو افضل دی. موږ خو داولیاوو دونه عزت کوو مګر شرط دا دی چی هغه ولی هم وی.

# دخاندانی پیری او جانشینی لعنت

داسی فیشنی او سیګریټ سکونکی سړی دچا سره چی دروژې او لمانځه فکر نسته که څه هم دبزرګانو اولاد وی خو دخدای دوست نسی کیدای، هیڅوك داسی سړی خپل پیشوا نسی جوړولای. مثلاً یو سړی ډاکټر نه دی دډاکټر زوی دی، دهغه پلار ستاسی خاندانی ډاکټر وو لاکن زوی یې څه کار کوی؟ پټاټې او سبزی خرڅوی، ستا تبه سوه نو آیا ته دډاکټر په زوی کوم چی سبزی او پټاټې خرڅوی یا حکومتی کار کوی یا دایم ایس سی سبق یې ویلی وی په هغه ته خپل علاج کوې؟ که څوك تاته لك واری ووایی چی په ده پیچکاری ولګوه نو ته په هغه پیچکاری لګوې؟ ورته وبه وایې چی دی خو ما وژنی ځکه چی دده پلار ډاکټر وو دی خو نه دی، زه خپل بدن دته په لاس نسم ورکولای، خپل ځان دته په لاس نسم ورکولای.

لاکن نن ایمان بل چا ته په لاس ورکول کیږی (وایی) چی صاحبه خاندانی پیر دی، لمونځ او روژه که نه کوی نو څه پروا لری. دوستانو! دژړا ځای دی چی تاسی خپل بدن او خپل ځان دخاندانی ډاکټر وزوی ته کوم چی ډاکټر نه دی په لاس نه ورکوی لاکن خپل دین او ایمان ودوکه بازه خلګو او غلو ته په لاس ورکوی. خیر په ښه غوږ یې واوری، بیا ونه وایاست چی موږ خبر نه سوو، زه خپله خبره نه دربandی منم چی تاسی ضرور زما خبره ومنی مګر زه ستاسی په محبت کی دغه خبره درته کوم چی دقیامت په ورځ به خدای تعالیٰ دغه پوښتنه راځخه کوی چی تا زما دپیغمبر پر کومو کومو سُنتو باندی عمل وکی، خدای تعالیٰ به دقیامت په ورځ دنبیﷺ دطریقو په باره کی پوښتنه راځخه کوی، دغه پوښتنه نه راځخه کیږی چی ستا خاندانی پیر څه کوله، تا سیګریټ وسکوی که یا، ستا خاندانی پیر چی کوم سیګریټ سکوی تا دهغه نقل وکړی که یا، دهغه پر لار ولاړې که یا، ستا پیر چرس سکول تا ولی چرس ونه سکول، ولی دی نشه ونه کړل، دقمار نمبر ستا پیر ورښوی تا دغه بازی ولی نه کړه زده بلکې

که مُرید هم دغه کارونه وکړی، چرس او شراب وچیښی، قمار وکی، لمونځ او روژه ونه کړی نو هغه ته به هم سزا ورکول کیږی.

اللهﷻ به پوښتنه راځخه وکړی چی تا لمونځ دسُنت په مطابق وکړی که یا، اودس دی دسُنت په مطابق وکړی که یا، روژې دی ونیولې که یا، کله چی دی کالی یا چپلکی په پښه کولې نو هغه وخت دنبی سُنت در په یادیدی؟ دغه خبری خو نن سبا څوك اوریدلو ته تیار نه دی، وایی چی دا خو دمُلایانو لار ده، تاسی راته ووایاست چی دا دمُلایانو لار ده که دنبیﷺ لار ده؟ مُلا (خلګو ته دشریعت) قانون ښووی، جوړوی یې نه، هو که څوك حواله درنه کړی او بیله دقرآن او دحدیث دحوالې خبره وکی نو مې منه، زه خو دخدایﷻ دکتاب حواله درکوم، دبُخاری شریف او مُسلم شریف په حواله سره خبری درته وړاندی کوم، بیا دغه چی زما ستاسی سره پخوانی دښمنی نه ده چی زه تاسی پر غلطه لار ولګوم یا زه نذرانې اخیستونکی پیر نه یم چی تاسی به ماته یو څه راکړی یا به زما کور راجوړ کړی. زه هیڅ نه غواړم، زه خو زړه ښایسته کول غواړم، دخدای په محبت سره، دنبیﷺ په محبت سره چی زموږ زړونه ښایسته سی زما دپاره داغه کفایت کوی که څه هم په ښکاره کی هیڅ نه وی، قرار خو ددننه قرار دی، دزړه قرار اصلی قرار دی، دکوم بنده ځخه چی خدای خوشحالوی هغه بنده قیمتی دی، دکومی ښځی ځخه چی خدای راضی وی هغه ښځه قیمتی ده، کنې لك واره بدن ښایسته که، لك واره پیسې دنامه دپاره خرڅی که، لك واره په واده کی مصرف وکه په دې هیڅ نه کیږی، بس خپل رب راضی که، که څه هم دنیا تاته بد ووایی پروا یې مه کوه، موږ ددنیا دخلګو سره نه اوسیږو، ددنیا خلګ موږ دخدای دغضب ځخه نه سی خلاصوای.

په ودو کی سادګی اختیار کړی، ما خپل زوی مولانا مظهر صاحب ته وویل چی په ډیر سادګی سره دخپل اولادو ودونه وکه، ما دده یعنی دخپل زوی واده په څلور

زره روپۍ وکی او په څلور زره می دلور واده وکی، دلور په واده کی خو ما په خلګو هیڅ هم نه دی خوړلی. دناوی دطرفه څخه دواده په خلګو ډوډی خوړل سُنت نه دی. دخدای شکر دی چی نن څنګه پر آرامه یم کنې پور به راباندی وای، که ما هم یو لك روپۍ خرڅی کړی وای نو پور به راکړل سوی وای او مُریدانو به راکړی هم وای مګر آیا زه به نن دلته وای؟ پر ما به خوب حرام وای، نن زه پر آرامه دټنډو جام په ښار (پاکستان) کی دخدای دمحبت جام چیښنم، دغه دخونده ډکی خبری کوم، کنې ټوله مستی به می ختمه سوی وای او هر وخت به می ویلای چی اې خدایه! پور می را ادا که، بیا داسی پیران ومُریدانو هم وایی چی وروڼو زما پر حال باندی رحم وکی، زه ډیر قرضداره یم، لاحول ولا قوة! داسی پیر ته هم طلاق ورکړی کوم چی خپل حاجت دخدای ماسوا ومُریدانو ته وایی. ددین خبره جلا ده، په مدرسه او مسجد کی (دمُریدانو) پیسه ورمصرف کړی دا صحیح ده لاکن که په مسجد کی هم څوك پیسې په ایمانداری سره نه مصرفوی بلکې خپله یې خوری نو هغه ته یې هم مه ورکوی.

لکه څنګه چی یو سړی دمسجد دپاره پیسې ټولولې او ویل به یې چی دخدای په ذات قسم دی چی زه پیسې پر مسجد لګوم، یو شاګرد ولیدی چی ده دمسجد په پیسو چرګ راوغوښتی او وې خوړی، وروسته شاګرد پوښتنه ځنی وکړل چی استاد صاحب تا خو دمسجد دپاره پیسې جمع کړی وې لاکن په هغو پیسو دی چرګ راوغوښتی، ته خو وایې چی زه پیسې پر مسجد لګوم، نو هغه ورته وویل چی ته بې عقل یې، ما پیسې دمسجد پر دیوال ولګولې(یعنی ومږلې) دهغه وروسته می چرګ راوغوښتی او ومی خوړی، زه خو غلطه خبره نه کوم چی دخدای په ذات قسم دی چی ما پیسې پر مسجد ولګولې.

لکه څنګه چی یو پیسه داره سړی وو هغه به هره ورځ (په خپل دوکان کی) دآتو پیسو میټایی وخوړل او وخریدارانو ته به یې ویل چی دخدای په ذات قسم دی

چی (پرشیانو باندی می دګتهی) صرف اَته پیسې خوړلی دی، ټولو خلګو به ویل چی داسی دوکاندار چیری پیدا کیږی کوم چی صرف اَته پیسې ګټه اخلی، دده څخه شیان رانیسی لاکن نورو دوکاندارانو ته چی خلګ ورغلل نو ورمعلوم سول چی ده خو پر هر شی باندی ډیره ګټه اخستې ده، نو خلګو ورته وویل چی تا خو داسی ویلی وه چی ما اَته پیسې خوړلی دی، داخو ډیر فرق دی، تا خو موږ ته ګران شیان راکړل، هغه ورته وویل چی دخدای په ذات قسم دی چی ما صرف اَته پیسې خوړلی دی، وروسته خلګو ته ورمعلوم سول چی سهار دأتو پیسو میټایی وخوری پر هغه باندی قسم اخلی. ددوکه بازه خلګو څخه دی مو خدای وساتی. لهٰذا په دې زمانه کی که چاته پر شریعت او سُنت برابر یو رشتیا ګو پیر ورپیداسی نو تر هغه بالا خوش قسمته سړی نسته. موږ ټوله باید شکر ادا کړو چی حق تعالیٰ موږ ته دنبیﷺ پر سُنتو باندی دعمل کونکی بزرګانو سره تعلق راپه نصیب کړی کنې موږ به هم چرس سکولای.

## دجعلی خانقاوو حال

زما یو دوست کوم چی اول دیو جعلی پیر په قصه اخته وو، په یوه جعلی خانقاه کی دهغه ژوند برباد سو، په لس دانو بادام کی به یې یوه توله چرس کوټل په ده به یې سکول، دهغه ځوانی یې وربرباد کړل، هغه دهیڅ کار نه سو پاته. نن سبا دغه حال دی چی په جعلی خانقاوو کی جاهل پیرانو لوی لوی بریتونه پرې ایښی ناست دی، نه لمونځ نه روژه بس هر وخت غوا ورته را روانه ده او وریجی پخیږی، قوالی شروع دی او دهغه وروسته غلط کارونه جلا دی، په بدفعلی(هلك بازی) غوندی ګناه کبیره کی اخته دی، هغه راته وویل چی دغه جعلی پیرانو ته به پولیس ددعا دپاره راتلل نو موږ چی څونه هلکوان هلته اوسیدلو یو او بل ته به مو ویله چی دغه ددعا دپاره راتلونکی ټوله بې عقلان دی، وغلطو خلګو ته ددعا دپاره وایی، ځکه چی نه لمونځ نه روژه نو دهغو دعا به څه قبلیږی، خلګ هلته دډوډی او دخوراك دپاره پراته دی کنې هغه ښه پوهیږی

چې څوك پر شريعت او سُنت برابر نه وي نو دهغه دعا څه قبلېږي.

## دبزرګۍ پېژندنه

ولي الله دجوړېدو دپاره اللهﷻ په قرآن پاك کي يو پيمانه ښوولې ده چي اې نبي! ته اعلان وکه چي ﴿اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ﴾ که تاسي دالله سره محبت كول غواړي نو ﴿فَاتَّبِعُوْنِىْ﴾ دنبي عليه السلام پر طريقه ولاړسي. دښځو څخه پرده وکي، عکسونه په کور کي مه ساتي، پنځه وخته لمونځ کوي، يو مُټ ږيره پرېږدي، بريتونه کوچني کي، پرتوګ تر بجلکو پورته ساتي، روژې نيسي، دشريعت هره خبره چي وي دهغه پوښتنه وکي، په کتابو کي ټوله ليکلي دي، اُسوهٔ رسولﷺ ډېر ښه کتاب دي هغه راوړي، هغه دي کور والا وايي او همدغه رنګه په بهشتي زيور کتاب سره خپل لمونځونه سم کړي، هر کار چي کوي پوښتنه يې وکي چي دنبي عليه السلام دسُنت او شريعت څخه ثابته دي که يا، ددغه تار دمدينې شريفي سره مُبنتي دي که يا، دنبي عليه السلام سره ددغه کار تعلق سته که يا، که تر هغه ځای پوري يې تعلق وي نو پوه سه چي دين دي کنې دين نه دي، بس همدغه (ددين) پيژندنه ده ځکه چي دين خو پر نبي عليه السلام باندي نازل سو، بس داغه اصل دين دي، ددغه ماسوا ټوله ګمراهي ده.

ټوله دين نبي عليه السلام تر اُمّته پوري ورسوی، په آخري حج کي دعرفات په ميدان کي نبي عليه السلام اعلان وکی ﴿قَدْ بَلَّغْتُ قَدْ بَلَّغْتُ﴾ ما تر اُمّته پوري ټوله دين ورسوی. لهذا ښادي وي که غم وي يا که خوشحالي وي هر کار چي وي دهغه په باره کي پوښتنه وکه چي دغه کار پر سُنت برابر دي که يا ځکه چي دقيامت په ورځ کوم عمل پر سُنت برابر وي هغه قبلېږي، کوم شيان چي پر سُنت او شريعت نه دي برابر هغه ټوله غير سرکاري دي او غير سرکاري خبره مقبوله نه وي.

تاسي وواياست دپاکستان په قانون کي که څوك بل قانون جوړ کړي او ګډه يې کړي نو به هغه ونيول سي که يا؟ دنبي عليه السلام دين نَعُوذُبِاللّٰه داسي دي چي هر څوك

نن هر څه وغواړی په هغه يې ګله کړی، پلار و نيکه پيمانه مه جوړوی، نبیﷺ پيمانه جوړ کی. دا فکر مه کوی چی زموږ پلار و نيکه داسی کول يا زموږ خاندانی پير داسی کوی، موږ دپيرانو غُلامان نه يو موږ دنبیﷺ غُلامان يو او دنبیﷺ دسُنت او شريعت چی کوم خلک پابنده دی دهغو اولياوو به موږ چپلکی پورته کوو، موږ داولياوو څخه ليری نه سو او سيدای، دهغو عزت کول زموږ خوش بختی ده.

دبُخاری شريف حديث دی چی داولياوو په صحبت سره قسمتونه بدليږی بدبختی په خوشبختی بدله سی. ديسی آم(دآمو يو عام قسم) دلنګړا آم(دآمو يو ښه قسم) په قلم سره لنګړا آم جوړ سی همدغه رنګه په ښه صحبت سره بد سړی ژر ولی الله جوړسی، چی ديسی آم لنګړا آم جوړيدای سی نو عام زړه دولی الله زړه ولی نسی جوړيدای. لفظ صحابه دصحبت څخه دی، دصحابی معنٰی ده دنبیﷺ صحبت اخيستونکی، دنبیﷺ صحبت يافته. سړی چی هر څونه کتابونه ووايی تر څو چی داولياوو صحبت چاته نه وی حاصل نو دالله تعالٰی او دنبیﷺ دمحبت صحيح درد هغه ته نسی حاصليدای.

لاکن دبزرګی په پيمانه پوه سی، دبزرګی معيار دغه نه دی چی بزرګ په هَوا سی يا بيله کښتۍ پر اُوبو روان سی بزرګی ددې نوم نه دی، بزرګی نوم دی پر سُنت باندی دعمل کولو. که دچا ژوند دسُنت خلاف وی او هغه په هَوا هم وی خو دخدای دوست نه دی، مچ خو هم په هَوا کيږی بيا خو دمچ سره مُريدی وکه، دغه دمعلومولو دپاره چی پلانی سړی دخدای دوست دی که يا دغه وګوره چی په جماعت سره په مسجد کی لمونځ کوی که يا، دهغه مخ پر سُنت برابر دی که يا، دهغه په کور کی ښادی څنګه کيږی، دعلاقې، دخاندان او دکورنی پر رواجو کيږی يا که دنبیﷺ پر طريقه باندی کيږی، وګوره دهغه په کور کی خو عکسونه نسته، بُتان خو نه دی پراته، دمومو، ډبرو، خاورو يا پلاستيکی سپيان او پيشانی خو يې دبازۍ دپاره نه دی ايښی.

نبیﷺ وهغه کور ته نه دی داخل سوی په کوم کور کی چی عکسونه وه. حضرت عائشهؓ پر دروازې باندی یوه پرده زړولې وه، پر هغه باندی عکسونه وه نو نبیﷺ وفرمایل چی زه وهغه کور ته نسم داخلیدای چیری چی عکسونه وی، تر څو چی دغه عکسونه ایسته نسی (تر هغه وخته) نبی ودغه کور ته نه سی داخلیدای.

کاروبار پر شریعت برابر نه کول، دسود کاروبار کول او رشوت اخیستل دغه ټوله شیان دشریعت خلاف دی. دخدای دوست هغه وی څوك چی پر شریعت او سُنت باندی عمل کوی، دنبیﷺ پر طریقو باندی عمل کوی. کوم ذات چی ولی جوړوی هغه اللّٰه پاك په قرآن شریف کی فرمایلی دی چی ﴿**اِنْ اَوْلِیَآءُ هٗٓ اِلَّاالْمُتَّقُوْنَ**﴾ زما دوستان صرف هغه کسان دی کوم چی گناه نه کوی یعنی څوك چی زما او زما درسولﷺ نافرمانی نه کوی. بس کوم سړی چی دونه عقل پیدا کړی چی صاحبه (دغه کار چی زه کوم) دغه په حدیث کی سته، اصحابو داسی کړی دی، نبیﷺ دغه ښوولی دی نو بس پوه سی چی دغه سړی به دبې دینی څخه وساتل سی او څوك چی دداسی پیپ څخه اُوبه چیښی چی په هغه کی مُرداری اُوبه گډی وی نو دهغه به څه حال وی لهٰذا دشریعت او سُنت پاکی اُوبه وچیښه، دبدعت دمُردارو اُوبو څخه ځان وساته، دغه ډیر بد شی دئ او بدعتی سړی ته توبه نه ورپه نصیب کیږی ځکه چی هغه بدعت دین بولی.

## دشیطان یو خطرناکه ایجاد

په حدیثو کی سته چی شیطان بدعت په دا غه خاطر ایجاد کړی چی مسلمان خو دگناه څخه توبه وکاږی، زنا، شراب، غلا، درواغ ټوله به پریږدی ځکه چی هغه دغه شیان گناه بولی مگر بدعت نه پریږدی ځکه چی هغه دغه دین بولی او کوی یې لهٰذا شیطان چی کله دغه ولیدل چی اللّٰهﷻ اعلان وکړی چی څوك توبه وکاږی زه هغه بخښم نو ده نور شیطانان را ټول کړل او ورته وې ویل چی زه به داسی شی ایجاد کړم

www.khanqah.org

چی سړی به دهغه څخه توبه هم نه کاږی، هغه کوم شی دی؟ هغه بدعت دیٔ او بدعت دین نه دی لاکن سړی به هغه دین بولی او کوی به یې.

## دنبیﷺ عشق داصحابو څخه زده کړی

لهٰذا وګوری چی دنبیﷺ په زمانه کی درسول اللّٰهﷺ سره اصحابو څنګه محبت کړی وو، په کوم انداز چی اصحابو محبت وکی صرف هغه قبول دی. نن څه حال دی چی د دوولسمی په ورځ باندی په ټوله ښار کی خلګ راووځی، نه لمونځ سته، نه روژه بس جلوس راوباسی او دا فکر کوی چی دنبیﷺ دمحبت حق مو ادا کړی.

وګوری اصحابو هم یو وخت جلوس را ایستلی وو؟ آیا تاسی تر اصحابو ډیر عاشقان جوړیدای سی، چاچی خپل ځانونه قربان کړل، اویا شهیدان دأُحد غره په لمن کی پراته دی چاچی پر نبیﷺ باندی ځان قربان کړی او تاسی صرف په سُورسُورانکی لګولو سره او پر سړکانو باندی دروازه په جوړولو سره درسول عاشقان سواست، لمونځ روژه نسته، په کور کی درسول اللّٰهﷺ سُنتونه تر پښو لاندی کیږی، دنبیﷺ پر سُنتو باندی عمل نسته، لمونځ، روژه، واخه راکه، ناسته ولاړه ټوله دسُنت خلاف او د دوولسمی په ورځ د درود شریف په ویلو سره او دجلوس په را ایستلو سره او دیارسول اللّٰه نعره په وهلو سره ځان ته درسول عاشقان وایاست، راته ووایه که ستا زوی د اې پلاره اې پلاره نعرې وهی او ته ورته ووایې چی زویه اُوبه راوړه او زوی درته ووایی چی اُوبه خو نه راوړم صرف دپلار زنده باد نعرې وهم نو ته هغه څنګه زوی بولې؟ لایق زوی یې بولې که نالایق؟ درسول نافرمانی کوې او په خوله نعرې وهې، اې وروره ستا پر نعرو دی لعنت وی.

که ته دنبیﷺ حُکم ومنې، درسول اللّٰهﷺ پر سُنت باندی عمل وکې نو بیله دیوې نعرې به ته ولی اللّٰه سې. ته دسُنت پر طریقه لمونځ وکه، دسُنت پر طریقه روژه ونیسه، دسُنت پر طریقه اُوبه وچیښه، دسُنت پر طریقه ډوډی وخوره، ټوله ژوند پر سُنت

برابر که بیا ثابته کیږی چی ته درسول عاشق یې او بیا به ته انشاء اللّٰه بیله دیوې نعرې درسول عاشق سې. داطاعت او اَمر منلو نوم محبت دی، دنعرې وهلو نوم محبت نه دی لاکن نن سبا یې څه پیمانه جوړه کړې ده، یو سړی چی شپه او ورځ دسُنت پر طریقه تیروی لاکن که نعره و نه وهی نو ددې جاهلانو په فکر کی هغه درسول عاشق نه دی. یو سړی چی پر هر سُنت باندی عمل کوی، دلمانځه، روژې، حج او زکوٰۃ پابنده دی، دخدای په عشق کی دتهجد لمونځ کوی، دګناوو څخه ځان ساتی، دنبی پر طریقه باندی عمل کوی هغه ته وایی چی دیٔ وهابی دی، مردود دی او یو سړی چی نه لمونځ او روژه کوی نه پر سُنت او شریعت باندی عمل کوی صرف د دوولسمی په ورځ دیانبی سَلام علیك په ویلو سره درسالت نعره ووهی دغه هغوته پوخ دسُنت خاوند دی، کنې دخدای او رسول په نظر کی دغه فاسق او مردود دی ځکه چی پر دین باندی عمل نه کوی.

کوم چی رشتیاګو دخدای دوستان دی او پر سُنت باندی عمل کونکی دی هغوته دوی وایی مړ سو مردود نه فاتحه نه درُود، کنې اصلی خبره داسی ده چی مړ سو *مردود را از فاتحه چه‌سود* یعنی تا چی دسُنت پر خلاف ژوند تیر کړی او مړ سوې نو ته مردود یې او چی مردود یې نو بیا په فاتحه او په درُود تاته څه ګټه در رسیږی که لك واری فاتحه وکې. خبره دا ده چی دعمل دکمزوروالی دپاره بدعت ایجاد کیږی، چیری چی بدعت راسی هلته سُنت پاته سی.

## درُود شریف ویل خالص ایمان دی

او درود شریف خو هر مسلمان وایی، دالتحیات وروسته درُود شریف سته که یا او په ناستی دی، نن خلګ وایی که څوك په ولاړی یانبی سَلام علیك ونه وایی هغه وهابی دی، راته ووایاست که دالله جَلَّ جَلَالُهٗ درُود شریف په ولاړی ویل خوښ وای نو په لمانځه کی به یې په ولاړی درُود ویل فرض کړی وای چی ګوری زما پر نبی چی درُود

واياست نو ولاړ سی لاکن راته ووایاست نبیﷺ دالتحیات وروسته درُود په ولاړی ویلی دی که په ناستی؟ نو معلوم سول چی درُود شریف په ناستی په ویلو سره هیڅ پروا نه لری، دلمانځه ماسوا په ناسته او ولاړه کی، په تګ او راتګ کی درُود شریف ویل زموږ دبزرګانو معمول دی لاکن دغه دونه پابندکول چی څوك یانبی سَلام علیك په ولاړی ونه وایی هغه وهابی کیږی دغه ظلم دی.

## موږ او زموږ بزرګان بیخی وهابیان نه دی

موږ یې نه پیژنو چی وهابی څه بَلا ده، زموږ بزرګانو په قسم اخیستلو سره فرمایلی دی چی دخدای په ذات قسم دی چی موږ وهابیان نه یو، دعبدُالوهاب نَجدی سره زموږ هیڅ تعلق نسته، هغه خو اولیاء نه منی موږ داولیاوو غُلامان یو او داولیاوو په سلسلو کی بیعت(مُریدی) اخلو. ناحقه پر موږ باندی دغه خبره کول چی نَعُوذُبِاللّٰه موږ داولیاوو خلاف یو او وهابیان یو، کوم خلګ چی پر موږ باندی دغه خبره تړی هغه به دقیامت په ورځ جواب ورکوی. په اصل کی انګریزانو دغه (وهابی) یو او بل دجنګولو دپاره ایجاد کړی وو.

پر یو خان صاحب(پښتون سړی) باندی دیو هندو ډیری پیسې باندی سوې، هندو پیسې ځنی وغوښتې نو خان صاحب دکلی خلګ راوغوښتل او ورته وې ویل چی دغه هندو وهابی سوی دی، دده (ددوکان) څخه سودا مه رانیسی. اُوس نو بیچاره هندو څه خبر چی وهابی څه شی دی، هغه وکتل چی نن سبا خریداران نه راځی نو په فکر کی سو او دخلګو څخه یې پوښتنه وکړل چی څه پیښه ده؟ هغو ورته وویل چی خان صاحب په کلی کی اعلان وکړی چی دغه هندو وهابی سوی دی، دده څخه سودا مه کوی، هندو وخان صاحب ته ورغلی او ورته وې ویل چی خان صاحب دا څه غضب دی وکړی ماته یو خریدار هم نه راځی نو خان صاحب ورته وویل چی پر ما دی ځونه پیسې باندی دی هغه را وبخښه نو زه به اُوس اعلان وکم چی هندو اُوس وهابی

نه دی پاته، هندو ورته وویل چی ښه دی خان صاحب ټوله پیسې می دروبخښې نو خان صاحب ټوله خلک راوغوښتل او ورته وې ویل چی ګوری دغه هندو اُوس وهابی نه دی پاته ده توبه وکښل.

دانګریزانو حکومت دغه فتنه پیدا کړه. کنې فکر وکی څوك چی شپه او ورځ دبُخاری شریف درس ورکوی، پر سُنت باندی عمل کوی هغه خو وهابی وی او څوك چی چرس سکوی او لُونګ یې وهلی ددریاب پر غاړه ناست (وخلګو ته) دقمار نمبر ورښووی او بینُ المِللی دوولس رنګه بیرغان یې پر قبر لګولی وی، خارجی فقیر یې دځانه جوړ کړی وی او صاحبه هغه که صرف وریجی پخې کړې او دیانبی سَلام علیك نعره یې ووهل او نذر او فاتحه یې وکړل، نن یې دشیخ عبدُ القادر جیلانی او سبا یې دخواجه معینُ الدین چشتی خیرات او فاتحه وکړل هغه ولی اللّٰه سو، فکر وکی چی اصحابو ستاسی پر طریقه باندی نذر کړی وو؟ نذر او نیاز خو فارسی لفظ دی ماته یې راښکاره کړی چی په کوم عربی لُغت کی ددې ذکر سته، دین خو په عربی نازل سو، راته ووایاست چی په کوم حدیث کی لفظ نیاز راغلی دی؟ ما ته که یې څوك راښکاره کړی نو زه اُوس یو لك روپیۍ انعام ورکوم.

## مُړو ته دثواب وربخښلو سُنت طریقه

ددې نوم په اصل کی ایصالِ ثواب دی، مړو ته ثواب وربخښل دا موږ هم منو. نبیﷺ فرمائی تاسی چی وخپلو مړو ته کوم ثوابونه وربخښی هغه ومړو ته وروړسیږی. قرآن شریف ووایه (ومړو ته یې ثواب) ورو بخښه، غریبانو ته ډوډی ورکه ثواب یې ور وبخښه، په شریعت کی ورځ مقررول منع ده، ورځ ولی ټاکې، که دطیارې ټکټ هر وخت پیدا کیدی لاکن یو څوك په اخبار کی دغه نشر کړی چی صرف پر یوولسمه باندی دبغداد ټکټ پیدا کیږی ددې تر مخه نه پیداکیږی نو دطیارې وزارت به پر هغه سړی دعوه وکړی که یا؟ نو چی اللّٰهﷻ هر وخت (دثواب)

دروازې خلاصې کړې دي او ته هر وخت (مړي ته) ثواب وربخښلای سې نو دځانه ولي ورځ مقرروې.

همدغه رنګه (خلګ دمړي) دریمه کوي، ولي صاحبه که دیو چا ټکر وسو او ډاکټر وایي چې دده اُوس وینه پکار ده او ته ورته وواېي چې زموږ دخاندان دغه رواج دی چې پر دریمه ورځ وینه ورکول کیږي نو ووایاست آیا دا دعقل خبره ده، همدغه رنګه مړي بیچاره ته اُوس دثواب ضرورت دی، خدای دی نه کوي که پر مړي باندي په قبرکي سوټې اوري او خلګ وایي چې موږ دی دریمه ورځ دسوټو څخه خلاصه وو اُوس درې ورځې سوټې وخوره. که په عقل سره هم فکر وکړې نو عقل به هم دا فیصله وکړي چې بدعت دین نه دی، دغه (دمړي) دریمه، څلویښتی ټوله دهندوانو څخه راغلی دی، په قرآن او حدیث کي هیڅ ځای نسته.

شریعت وایي چې دثواب (وربخښولو) دروازه څلیرویشت ساعته خلاصه ده څونه چې غواړې ثواب (ومړي ته) وروبخښه لاکن ددې نوم ایصالِ ثواب دی، دغه فاتحه او نیاز ټوله دوکه بازه خلګو جوړ کړي دي. ایصالِ ثواب څونه چې غواړې او چې څه وخت یې غواړې وې که. ډوډی پَخه که په غریبانو یې وخوره مګر پر ډوډی باندي یو څه ویل دهیڅ ځای څخه نه دي ثابته، دځانه دغه رواجول چې تر څو پوري پر ډوډی باندي یو شی ونه ویل سی تر هغه وخته (ومړي) ته ثواب نه رسیږي دا غلطه خبره ده. په دین کي دځانه اضافه کول کله روا کیږي.

غریبانو ته دډوډی ورکولو ثواب جلا دی، دقرآن شریف دویلو ثواب جلا دی. ښه چې یو غریب ته لس روپۍ ورکوې نو پر هغه باندي ولي یو شی نه وایې، که دیو چا نس خراب دی هغه ته چې دوا ورکوې نو پر دوا باندي ولي یو شی نه وایې، یو غریب دیَخه ریږدي هغه ته چې شړۍ ورکوې نو پر شړۍ باندي ولي یو شی نه وایې، لهٰذا ډوډی وي، کالي وي که پیسې وي هر شی چې صدقه کوې دهغه شرعي طریقه دغه ده

چی غریب ته یې ورکه او وخدای ته ووایه چی یاالله! ددې ثواب زما پلار ته، نیکه ته، لوی پیر صاحب ته، ټولو اولیاوو ته وروبخښې.

تا دثواب وربخښولو څخه څوك راګرځوی، ناحقه په ناحقه تاسی ته دغه جاهلان دعلماءِ حق په باره کی وایی چی دوی ثواب وربخښل نه منی، موږ یې تر تاسی ډیر منو، یوه ورځ هم داسی نه تیریږی چی موږ وخپلو بزرګانو او مور و پلار ته ثواب ور ونه بخښو، زموږ دغه تعلیم دی چی روزانه خپل مور او پلار ته ثواب وربخښه. دثواب وربخښولو لفظ خو سته یعنی ایصالِ ثواب خو سته مګر په قرآن پاك او حدیث شریف کی دی څوك دنذر او فاتحه لفظ راښکاره کړی.

## دفاتحې او دنذر و نیاز حقیقت

دنذر او فاتحې کومه طریقه چی تاسی ایجاد کړې ده هغه یو ځای په قرآن او حدیث کی راښکاره کړی، یو ځای یې راښکاره کړی چی اصحابو ستاسی پر ډول نیاز او فاتحه کړې وه. دغه نذر او نیاز ایرانی لفظ دی، زموږ دین په ایران کی نه دی نازل سوی، په عربو کی نازل سوی دی لهٰذا نیاز لفظ خپله دغه راښووی چی دغه دین نه دی. ایصالِ ثواب(ثواب وربخښل) وکه او دغه پوښتنه وکه چی زه لوی پیر صاحب ته، ددین بزرګانو ته، اولیاوو ته، مور و پلار ته ثواب وربخښل غواړم څنګه یې وروبخښم؟ ددې طریقه داغه ده چی صدقه وکه او دا نیت وکه چی ددې ثواب دی ودوی ته ورورسیږی.

لاکن دغه عقیده ساتل چی موږ ثواب وروبخښو نو لوی پیر صاحب حضرت شیخ عبدُالقادر جیلانیؒ به راسی او په روزی کی به برکت راواچوی او زموږ اولاد به ښه سی او که دغه کال موږ یوولسمه ونه کړل نو لوی پیر صاحب به موږ مړه کی دا ټوله دګمراهی خبری دی. خیر ما عرض درته وکړی چی نیاز ایرانی لفظ دی او دین په عربی نازل سوی دی، ددې څخه ثابته سول چی دغه دین نه سی کیدای او دنیاز کومه طریقه

چې خلګو ایجاد کړې ده هغه هم دځانه جوړه سوی ده ځکه چې دثواب وربخښولو دپاره نه پر ډوډی باندی یو شی ویل ضروری دی، نه لوبان(خوشبویی کوی) لګول ضروری دی نه اګر بتی(دا هم خوشبویی کوی) لګول ضروری دی.

دین خو آسانه دی، دقرآن پاك تلاوت وکه دهغه ثواب جلا وروبخښه، غریبانو ته پیسی ورکه، کالی ورکه، دوا ورکه دهغه ثواب جلا وروبخښه، دیو مسکین پور ورادا که دهغه ثواب جلا وخپل مړی ته وروبخښه، که دی مسجد او مدرسې ته پیسې ورکړې دهغه ثواب جلا وروبخښه، دخپله ځانه قید ولی پر لګوې چې پر ډوډی باندی بیله یو شی ویلو ومړو ته ثواب نه رسیږی او پر یوولسمه باندی صدقه وکه پر بل تاریخ باندی صدقه نه قبلیږی لَاحَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه.

زې دربښووم چې دغه قید ټوله دنس دپاره دی، خیټو پیرانو دغه فکر وکی که موږ وخلګو ته دغه ووایو چې ایصالِ ثواب تاسی خپله کولای سی نو پر موږ به بیا ځوك پوښتنه کوی لهٰذا نسور مُلایانو او پیرانو دغه لازمی کړل چې بیله یو څه پر ویلو ثواب نه رسیږی لهٰذا اُوس نو دوی راوغواړی، بیله زما فاتحه نه کیږی نو ډوډی یې مخ ته پرته یې یو شی پر وایی، په دې کی ددوی دغه مطلب یی چې بیله زموږ ددونه شیانو دویلو ومړی ته ډوډی نسی رسیدای لهٰذا چې دونه شیان یې پر وویل اُوس نو مُلا صاحب ته هم ډك غاب وریجی او غورمه ورکی. دغه ساده اُمّت بیچاره برباد سو.

## دیو خیټو مُلا د ارواحو سره جنګونه

په یو کلی کی یو مُلا صاحب به فاتحه اخیستل. یوه ورځ بیله دده صلاح یو بل مُلا فاتحه واخیستل کله چې هغه اول مُلا صاحب خبر سو چې پلانی مُلا صاحب راغلی او ومړو ته یې ثواب وروبخښی نو هغه ټوله شپه په مسجد کی سوټی وه اورول، داسی سوټی یې وه اورول چې په مسجد کی یې شور و غوغا جوړه کړه، ټولو خلګو راوځغستل چې څه پیښنه ده، مُلا ورته وویل چې تاسی په یوه ناخبره سړی باندی

ثواب ومړو ته وروبخښی معلومه نه ده چی هغه ثوابونه چیری واستول، هغه دمړو سره شناخت نه لری، زه ستاسی زوړ سړی یم، ستاسی دمړو سره زما دعا و سلام سته، ما به هغوته صحیح صحیح ثوابونه وربخښل، نن ومړو ته ثوابونه ور ونه رسیدل نو ټوله زما سره جنګونه کوی، پر ما باندی هغو حمله وکړل، زه یې په سوټو وهم او خپل ځان ځنی ساتم، ټوله شپه می دمړو سره جنګونه سوی دی، دصحرا خلګ علم خو لری نه، بیچاره ساده خلګ وی، هغو ورته وویل چی ښه دی وروره بل وار فاتحه بس په تا اخلو.

## فاتحه غلا سول

دپولیسو دماموریت یو مشر کوم چی دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه سره مرید وو، هغه ویل چی کله زه په سهارن پور(هندوستان) کی سرمامور وم نو یو سړی راغلی او دغه یې راته وویل چی صاحبه زما فاتحه غلا سول، هغه ویل چی زه ډیر وارخطا سوم چی فاتحه څنګه غلا کیږی، پوښتنه یې ځنی وکړل چی په کوم شکل وه، هغه سړی ورته وویل چی دباښس په شکل وه، زموږ پیر صاحب هغه را دم کړې وه چی پوره کال یې پر ډوډی باندی لږ لږ دوړوه نو فاتحه به دی کیږی، زما هغه فاتحه غلا سول. وواياست دغه جعلی پیرانو خلګو ته څنګه دوکه ورکړې ده. دین خو آسانه دی، دونه آسانه دی چی دثواب وربخښولو دپاره دهیڅ مُلا ضرورت نسته.

## دثواب وربخښولو په باره کی یوه ضروری اصلاح

دوهمه خبره دا ده چی دثواب دپاره ډوډی ورکول ضروری نه ده بلکې تر ډوډی ډیر ثواب په پیسو کی دی، ګوره یو غریب دپیسو ضرورت لری، په باران کی دهغه کور ته اُوبه راڅڅیږی نو ستا په وریجو دهغه بام نه سمیږی لهذا سل روپۍ چی ته پر ډوډی خرڅوې هغه پیسې وغریب ته ورکه چی خپل کور په سم کی. یو سړی دیَخه ریږدی

تا هغه ته وريجي ورکړې دهغه خو شړۍ پکار ده لهٰذا هغه ته شړۍ ورکه او وخداى ته ووايه چي ياالله دغه راڅخه قبول کړې او ددې ثواب ولوى پير صاحب شيخ عبدُ القادر جيلانى رحمة الله عليه ته وروړسوې. لوى پير صاحب ته دثواب وربخښولو دپاره وريجي ورکول ضرورى نه دى.

همدغه رنګه ديو غريب دکولمو تاو کيږى، دعلاج دپاره پيسې نه لرى، دهغه بدنۍ په لاس کى دقيقه پر دقيقه ځغلى او تا وريجى ورته راوړې چى دا دلوى پير صاحب دفاتحې دى نو د وريجو په خوړلو سره دهغه نس نور خرابيږى که يا؟ لهٰذا هغه ته پيسې ورکه چى ورسه دوا په رانيسه او ددې صدقې ثواب اُوس ولوى پير صاحب ته وروبخښه يا هر چاته چى يې وربخښې مثلاً خپل مور و پلار، انا و نيکه ته يې وروبخښه. دين خو آسانه دى، دثواب وربخښولو دپاره نه ديوه پير دراغوښتلو ضرورت دى او نه په يوه مُلا باندى دفاتحه اخيستلو ضرورت دى. بس خداى دى موږ ټولو ته ددين صحيح فکر، صحيح عقل، صحيح پيژندنه راپه نصيب کړى.

## دُرود شريف دويلو هدايت

هر وخت دُرود شريف په کثرت سره واياست او په خاصه ددعا تر مخه او وروسته دُرود شريف لازمى ووایاست. حضرت عمرؓ وفرمايل چى اې خلکو! ستاسى دعاوى نه قبليږى، په هَوا ځړيږى تر آسمان هم نه پورته کيږى تر هغه وخته چى تاسى پر خپل نبى باندى دُرود ونه واياست. ولى صاحبه زما دخولې څخه تاسى ته دُرود شريف دويلو هدايت کيږى که يا، موږ او زموږ بزرګان شپه او ورځ دُرود شريف وايو لاکن دوى(بدعتيان) موږ ته وايى چى مړه سول مردود دچا چى نه فاتحه وى نه دُرود. توبه وکاږى، دقيامت په ورځ به څه جواب ورکوى، ددې فکر وکى، دجاهلانو سره داغه يو جواب ورسره دى، علم خو دوى لرى نه، په دې خاطر خپل کاروبار دچلولو دپاره او

دخدای دوستان او دحق خاوندان یې دبدنامولو دپاره دغه خبره جوړه کړل، ګواکې دغه دهغو دجهالت آخری نښانی ده، دوی خبر دی چی دقرآن او حدیث په رڼا کی یې موږ دعُلماءِ حق څخه نه سو ګټلای په دې خاطر په خلګو کی دغه خبره مشهوره کړی چی دوی درسول دښمنان دی، مردود دی.

شیطان ډیر چالاکه دی، شیطان دغه فکر وکی چی دعلم په روښنایی کی دحق دخاوندانو څخه ګټل خو مشکل دی په دې خاطر یې وجاهلانو ته دغه ور زده کړل چی په داسی جملو سره دخپل جهالت دتاریکې سایه (پر خلګو باندی) اچوی لاکن دعُلماوو سره دعلم داسی روښنایی ده پر کوم چی دجهالت دتاریکې زور نه چلیږی، تاریکه دهغه ځای څخه خپله ځغلی.

رسول اللهﷺ فرمائی ﴿اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاء﴾ عُلماء دانبیاوو وارثان دی او نبیؑ فرمائی چاچی دیو عالم سره دلاس روغبړ وکی ګواکې هغه دنبی سره دلاس روغبړ وکی. دعالم دونه لو درجه ده او نبیؑ وفرمایل چی دعالم فضیلت پر تاسی باندی دونه دی څونه چی زما فضیلت ستاسی دکوچنی درجې پر خاوند باندی دی. عُلماوو ته به وجنت ته دتګ تر مخه دسفارش اختیار ورکړل سی چی دچا ته سفارش کول غواړې دهغو سفارش وکه، هر څوك چی غواړې وجنت ته یې درسره بوزه.

آه ! نن داغه عُلماوو ته مړه سول مردود دچاچی نه وی فاتحه نه درُود ویل کیږی (څوك چی داسی خبره کوی) هم دداغه ظالم څخه پوښتنه وکه چی ستا ده الف وب سیپاره زده ده؟ ته خو قرآن شریف هم صحیح نه سې ویلای، التحیات دی هم نه دی زده او ته عُلماوو ته داسی خبری کوې لکه څنګه چی پاچا هارون رشید په شاهی جلوس کی روان وو نو یوه بنګی وویل چی نن سبا پاچا زما په نظر کی هیڅ اهمیت نه لری، پاچا هارون رشید ته خبر ورکړل سو چی بنګۍ کوم چی جاروکښی کوی، مُرداری پورته کوی داسی وایی چی نن سبا پاچا ماته هیڅ اهمیت نه لری نو پاچا

وخندل او وې ويل چی دبنګيانو په نظر کی زه دعزت ضرورت نه لرم. ددې جاهلانو په ويلو سره عُلماوو ته هيڅ تاوان نه رسيږی، داسی خبری کونکی خپل آخرت خرابوی. اللّٰهُ اکبر! دعُلماوو څنګه شان او مرتبه ده، رسول اللّٰهﷺ فرمائی چا چی زما دامّت دعالم احترام ونه کی﴿**فَلَيْسَ مِنَّا**﴾ زما دهغه سره هيڅ تعلق نسته.

بس ددې مجلس دغه خلاصه ده چی په خپلو کورو کی سُنت نشر کړی، کله چی دسُنت دريابونه وبهيږی، دسُنتو باران وسی نو دبدعت مُرداری به خپله پاکه سی، کله چی باران وسی نو څونه چی مُردار لښتيان دی دهغو ټوله مُرداری پاکه سی. دسُنتو باران وکی په کورو کی، په ښارو کی، په کلو کی، په مسجدو کی هر ځای هر وخت دسُنت اهتمام وکی. دنبیؑ سُنتونه په عملی کولو سره به بدعت ختم سی.

خدایﷻ دی موږ ټولو ته صحيح عقل، صحيح فکر او صحيح زړه راپه نصيب کړی، پر صحيح لاره دی مو وساتی او دګمراهی څخه دی مو وساتی.

**وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ** ط